

بنگلا
ناول
Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دکتاب پېژندنه

دکتاب نوم: ښکلا
لیکوال : ګل رحمن رحماني
خپرونکی: ګودرخپرندویه ټولنه
کمپوزګر: بختیارتلاش
ډیزاین: صادق الله صادق
چاپ شمېر: ۲۰۰۰
دخپرېدوکال: ۱۳۸۹هجري لمریز
انترنیت خپروونکی: اجمل اکبري

ډالۍ

خپلې ګرانې مورته چې زموږ دکورنۍ خوښۍ پرې راغونډې دي اوله خدایه ورته له مانه اوږ دعمرغواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهلمند دارېژېدلې ښکلا

هلمند يووخت دپښتنوالې په ټولوځانګړتياوو ډک نوم وو اودنوم په اخيستوبه يې دهرچاپه زړه کې يوډول رعب اوعظمت په څپوشو هلمندښکلی وو، ښايسته وو ، دغيرتونواوننګونوکوروو، اودپښتنودسرشمله وه دهلمندپراخې ځمکې دګران هېواددطبيعي ښکلايومستندانځوروو خواوس هرڅه بل ډول وو زه په خپل دې ناول دغه ليکنه داسې مهال کوم چې همداوس هم په دغه سيمه کې دمشترک په نام عمليات په جوش سره روان دي بهرنيواوافغان ځواکونودمارجې دسمسورې سيمې دنيولولپاره دومره لوی فوځي عشرکړی چې ته به وايې دکوم هېواددنيولوهوډيې کړی لاهم دښکلاغوندې دګڼوهلمندی پېغلوکډې له دغه سيمې روانې دي خوپه کومه خوا؟ دچاکره ؟چېرته اودچالپاره ؟داهغې پوښتنې دي چې لايې هم زماسره ځواب نه شته اوپه دې ناول کې هم راسره راته پيدانه شوې په دغه سيمه چې اوس هم کوم ناورين روان دی نونړيوال څه چې په کابل کې زموږ مشران هم نه دي ورباندې ډېرکم خلک به اوس په دې پوهېږي چې داد پښتنواو پښتون ولس په ضد دچاپرېکړه وه اوڅومره پښتانه په کې په نورونومونوځپل شوي دي زه نه غواړم خپلې خبرې اوږدې کړم ځکه دهمدې لپاره مې دغه ناول ليکلی ديوريښتينی داستان دی اوديوې هلمندی نجلۍ ښکلاداستان بيانوي چې څنګه يې ژوندتلاترغه شواودچاايثاربېرته پخوانۍ خوښې ورته راستنه کړه ددغه داستان عجيبه پېښې دکابل له قمبرڅلورلارې څخه پې لېږي چې اوس هم په کې ګڼ هلمندي مهاجرمېشت دي اوهرچاته دسوال لاس اوږدوي وروسته يوه برخه دښکلاپه ليکنوکې راغلې ، په ښارکې ديوه کليوال ځوان هغه حالت انځورشوی چې کله هم له ښارسره جوړنه راځي نورې پېښې په لښکرګاه اوپېښورکې بيان شوې دي اوپه کابل کې پای ته رسېږي ښه خبره په کې داده چې ښکلاته يوبل سلطان اوسلطان ته يوه ښکلا پيداکېږي په دې هيله چې دغه داستان په مينه ولولی.اوبيايادونه وکړم چې دازمادويم ناول دی خوترلومړي ليکل شوي ناول وړاندې خپرېږي.

په پای کې له خپل ملګري فرهنګي اوفرهنګپال اودګودرخپرندويې ټولنې دمشرعزت الله ځواب ددغه کتاب دسمبالونکې اوخواږه دوست قاري صيب قدرت الله تائب نه په ځانګړي ډول مننه چې دغه ناول خپروي اوستاسې ترګوتويې دررسوي دګران ملګري اوژورنالست عزيزاتل نه مننه چې زماپه اړه يې يوڅه وليکل اودغه ناول په چاروکې يې مرسته وکړه ، دصفاراډيودپياوړي تخنيکر اوهڅاندزلمي بخيتارتلاش دې هم کودرودان وي چې دغه خورې ورې پاڼې يې په کم وخت کې کمپوزکړې دټولوښه غواړم خدای يې په ټولوچاروکې کامياب لري

ستاسې ټولودمينې پوروړی

ګل رحمن رحماني

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳۸۸\۱۲\۵کب
دصفاراډیو دخپرونومدیریت
جلال ابادښار

یوڅه ددې داستان دلیکوال په اړه

دخیال اوتصور دماښیو انځورګرشاعر ښاغلی ((ګل رحمان رحماني)) له نن څخه څلورویشت پسرلي وړاندې د وردګوولایت په چک ولسوالۍ کې داروانښادمولوي ((عبدالرازاق)) په دیندار او فاضله کورنۍ کې دې فاني نړۍ ته سترګې غړولې دي. دی لومړنۍ زده کړې یې دچک ولسوالۍ پورې اړوند د حضرت((عمرفاروق په لیسه کې سرته رسولي او په همدې لېسې څخه په ښه درجه فارغ شوی.
اوس مهال ښاغلی ګل رحمان ((رحماني)) دننګرهار پوهنتون کې دپښتوادب دوروستي کال زده کړیال دی.دی لا داتم ټولګي زده کونکی وو چې دشعراو ادب ښاپیرۍ په خپله رنګینه غیږ کې راونغاړلو او دښکلاخالق ورباندې د دغه ستر نعمت لورېنه وکړه.ښاغلی ګل رحمان ((رحماني)) ددې تر څنګ چې ځوان، پیاوړی ،هڅاندا ونازک خیاله شاعر اولیکوال دی یو زیرک اوخوش میذاجه ژورنالیست هم دی او په دغه ډګر ګې یې کارونه دستایلووړدي.ښاغلي د چاپي رسنیو تر څنګ یوشمېر غږیزو رسنیو سره هم کار کړی چې اوس مهال د((صفا)) راډیو دخپرونو دمدیرپه توګه خپله دنده په مخ وړي.
دښکلا ناول دلیکوال څلورم چاپي اثر دی او دبندیوان ((ناول))،پرې شوي تاکونه ((لنډۍ کیسې)) اوتلپاتې درد ((هنري نثرونه)) یې دچاپ لارې څاري.
ښکلا ناول افغاني ټولنې ته داوسمهالوورپېښو کړاونو هېنداره ده او دغه انځور پکې لیکوال ډېر په مهارت انځور کړی.نو په دې هیله چې دغه په زړه پورې داستان ترپایه ولولئ او یو څه ادبي تنده موپرې خړوب شي.
په پای کې ددغې ټولګې دچاپ کېدو مبارکي هڅاند شاعر لیکوال او ژورنالېست ښاغلي ګل رحمان ((رحماني)) ته په علم او ادب کې دلاښو پنځونواوپرمختګونوهیله کوم .خدای (ج )دې وکړي چې دغه ناول دلوستونکودخوښې وړوګرځي دپښتوادب په زولۍ کې دیوه غوره زیاتونه شي.په قلم اوعلم یې دې برکت وي له الله څخه ورته په راتلونکې کې دلا بریاوو او دلازیاتو خدمتونو حوصله غواړم
په درنښت
عزیز((اتل))
جلال کوټ-صفاراډیو دفتر
۱۳\حوت\۱۳۸۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ابراهیم بن ادهم جومات ته به د لمانځه لپاره د ښار هغه عمر خوړلي کسان راتلل چې د ژوند اوږدې تجربې به یې پای ته رسولې وې، او اوس به یې د ژوند یوه زیاته برخه په راز او نیاز او یا هم د ځوانۍ په رنګینو ګناهونو د اوښکو تویولو لپاره ځانګړې وه د دغه بوډاګانو په زړونو کې د پښېمانیو او سلګیو را الوتی طوفان یوازې هغه چا ښه حس کولی شوای چې د ګناهونو ډکه ځواني ترې تللي وه او اوس لکه دمنې پاڼه هرې سیلۍ ورسره اخیستل ، ځېنې بیا داسې کسان وو چې د ابراهیم بن ادهم د سخاوت او قربانیو کیسې به یې اورېدلې وې هغوی به فکر کاوه چې ادهم صیب به د دغه جومات په کوم محراب کې ناست وي او دوی به یې ووینې خو دا ټول د بوداګانو اندونه دي، اروا پوهنه وايي چې په بوډاتوب کې انسان بېرته د ماشومتوب خواص غوره کوي د هغوی غوندې یې خفګان، خوښي او باور په وړو خبرو وي خو د دوی ترمینځ ګډ ټکی بیا هم سپېڅلتیا ده نوی ماشوم چې کله د خپلې مور په غېږ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نرۍ ته سترګې وغړوي د هغه تنکۍ ګلغوټۍ په څېر وي چې يو سهار واشي په بڼ کې خپلې وږمې او رنګونه خواره کړي او کوم نسيم يا سيلۍ يې لاهم له پاڼو سره لوبې نه وي کړې، بوډاګان که د راون پوهنې له نظره ماشومانو ته ورته کېږي نو بيا د هغوی په سپېڅلتيا اعتراف هم دهغوی حق دی په داسې عمر کې ديو بوډا سره تر ټولو وروستۍ سرمايه د هغه اوښکې وې چې هر چاته يې په مينه او عاجزۍ ډالۍ کوي.

د ابراهيم بن ادهم د جومات په غولي بيا نه يوازې دغه ډالۍ سهاراوماښام په تياروکې وړاندې شوې بلکې ډېرو ماتو خوړلو ځوانانو هم په تيارو کې د سوڼ سوڼ اوازونه اوچت کړيدي ، د څښتن په وړاندې يې ددې ډالۍ په وړاندې کولو کې ځان کم نه دی راوستی.

داجومات دومره عصري او ښکلی نه وو خو ښکلا يې په دې کې وه چې د ښار د شورماشور نه لرې ديوې کوچنۍ غونډۍ په لمن کې جوړ وو او لاره يې هم په ډېرو واټونو او کوڅو کې نه وه چې د لمونځ کوونکو لمونځ او عبادت ته دې د ريا ګوته ونيول شي د جومات دغولي په يوه برخه کې لاهم پوزی هوار وو د برق په ځای په کې تېلي څيراغونه او شمعې لګېدلې او دېوالونه يې د ختو وود چت لرګيو او د اوداسه ځايونه يې له واره سرې پوهول چې دا جومات د ښارله نوروکورونواوودانيونه څومره مشر دی همدغه ځانګړيتاوو جومات ته دا وياړ ورپه برخه کړی وو ،چې په ورننوتو به د هر چا له سره دنياوي خيالونه ووتل او په زړه کې به يې يو ډول تسکين او ارام لمن هواره کړه.

دا سې فکر به دې کاوه چې د اصحابو کرامو د وخت په کوم جومات کې په عبادت لګيايم په ذهن کې به ضرور ورته دد غه جومات د جوړونکو هغه انځورونه راتلل چې په ډېر وياړ سره د ښار په دغه څنډه کې د يوې شنې غونډې په لمن کې لګيا دي او جومات جوړوي ديوې دنګې منارې لپاره ختې پخوي او له ډېر زحمت وروسته يو داسې ښکلې او رنګه مناره ورجوړوي چې اوس هم د چا په وس کې نه شته او بيا يې ديو داسې چا نوم پرې ږدي چې بشريت يې لاهم د احسانونو پوروړی دی.

د جومات په غولي دهوارو شوو پوزو په مخ د مخکينيو کسانو د سجدو نښې شته دا پوزي د هغو د تندي او ګونډو خاپونه لا هم د يوه سپېڅلي امانت په توګه ساتي او ډېر ځله ورته د يو چا پام هلته اړوي چې پرې د سجدې لګولو وياړ ور په برخه شي شايد د هغوی د سلګو او دعاګانو ازانګې هم د جومات په کوم کونج کې خوندي وي خو له غوږونو يې به لا هم هغه پردې نه وي لرې شوې چې دغه سپېڅلو ازانګو د اورېدو مخه نيسي د جومات ملا امام ملاشمس الدين هم يو نېک انسان دی چې ددغه جومات د امامت لپاره مناسب څه چې هرچافکرکاوه چې خدای(ج) د دغه جومات د امامت لپاره پيدا کړی دی.

هغه په هر څه پوهېږي د ابراهيم بن ادهم دومره کيسې يې يادې دي چې په يوه کتاب کې به هم نه وي راغلې يا که وي هم نو څوک يې د ملا شمس الدين غوندې په ځانګړي طرز نه شي ويلی هغه د يوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېښې يا د پېغمبرانو د کيسو په بيان کې ددومره انځور ګرۍ او تمثيل نه کار اخلي چې د اوريدونکو خولې ورته له ډېرې حيرانۍ وازې پاتې وي او په خيال کې هم د سحنې په يوه برخه کې روان وي.
له کلي نه د کابل ښار ته زموږ راکډه کېدل يوه ذره هم زما په طبعه نه وو خو پلار مې وېل چې په کلي کې مو ګوزاره نه کېږي زه هلته په دنده کې وم او زړه مې دلته راختلی وي ما په بار بار د هغه ددغه پرېکړې مخالفت کاوه زه نه پوهېږم چې ولې مې په زړه او په ذهن کې د کلي ښکلا دومره واکمنه وه چې زه يې آن د پلار د خبرو په مقابل کې ودرېدو ته هځولم ما له غرونو، سيندونو او کروندو سره دومره پيوند اخيستی وو چې پوره څو کاله د خپل پلار ددغه ارادې په مخ کې خنډ شوم د هغه د سترياوو او سرګردانيو ګناه مې په غاړه واخيسته په سر کې را باندې دا شکونه هم وو چې د خپل تره باز محمد کاکا له لور ښکلا سره مينه لرم او د هغه جادويي او غرنۍ ښکلا د پلار په وړاندې د ودرېدو ګناه ته مجبور کړی يم او په کلي کې د پاتې کېدو زولنې يې پښو ته را اچولې دي.
دهغوی دا شکونه هم بې ځايه نه وو زه په ښکلا له زړه نه مين وم هغه يوه داسې نجلۍ وه چې د يوه کليوال ښايست ټولې ځانګړتياوې اوصفتونه په کې راجمع وو او د لرغونو کيسو د ښکلو ښاپېريو څېره په کې تراشل شوې وه هغې هم زه خوښولم او دغه پېغام يې څو ځله د عقابې سترګو له بامه رارسولی وو خو موږ له ماشومتوبه سره نااشنا وو او يو بل ته ديو نا ويلي راز غوندې ښکارېدو موږ د هغوی د کورونيو تر منځ ان له هغه مهاله د تربګنت او دښمنۍ تور دېوالونه ولاړ وو او يو د بل سره مو خبرې نه کولې د هغوی ددروازې او کوڅې په مخ کې به له تېرېدو سره هم زما پلار غوږونه راباندې تاوول او په زوره به يې راته ويل
(( وه ځونيمرګ شې تربوردې دی ! ))
زه د خپل پلار په دې کړ و ان له هماغه مهاله حيران وم که زما بازمحمد کاکا يو ساده دکاندار وو خو پلار مې هوښيار انسان وو اويا د کليوالو په خبره پنتوني (پوهنتوني) وو هغه به چې په کابل کې هم زموږ کوم کليوال وليده نو ددې په ځای چې د کور حال احوال واخلي نو د کور پوښتنه به يې ورڅخه کوله چې سلطان خوبه د بازمحمد د زامنو سره کار نه لري؟
خو زه ښه نه پوهېدم چې زما د پلار مطلب څوک دي موږ ان د ماشومتوبه سره مرور وو ددې مرورتوب سره سره ښکلا زما په زړه کې وه او په د يوه ښکلي انځور په څېر به مې په شپو شپوورسره خبرې کولې خو د پلار غوصې او د بازمحمد کاکا قهرجنو سترګو به دغه انځور پيکه کولو د اوړي دموسم په ماښامونو به چې هغوی په برنډه ناست وو نو ما به د بالاخانې د کړکۍ پرده کش کړه او له چولوبه مې غلي غلي د ښکلا دوی انګړ ته ورکتل ښکلا به د ورونو او مور په مخ کې ناسته وه او د مور پښې به يې چاپې کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ کور ته لار دهغوی په دروازه راتېرېدله یوه ورځ له ښوونځي په تفریح کې را وتښتېدم ګورم چې د باغچې په مخ کې ښکلا زما کوچنۍ خور درولې او هغه ورنه ځان خلاصوي ښکلا ورته وایې سلطان څنګه دی له ښوونځي څه وخت راځي؟

زما په راښکاره کېدو ښکلا په منډه کورته ننوته او خور مې حیرانه پاتې شوه لکه کومه لویه ګناه یې چې کړې وي مخکې له دې چې زه ورته څه ووایم په عاجزانه لهجه په خبرو شوه.

سلطان لالا په زوره یې درولې وم، غوږونه یې لا ته تا و کلل.(کړل )

که څه هم زما په زړه کې د خوښیو طوفان را لوتی وو او د هغه څه په اړه پوهېدم چې له مودو مودو یې د شک او ګومان په تیارو کې ډوب کړی وم خوخورته مې یوه وړه څپېړه ورکړه او د کور په لور روان شوو خو زما په څېره کې د خوښۍ خورې څپې د پټېدو نه وې ممکن ښکلا به د دروازې له چولو هم ځارلی وم او زما حالت به ورته څرګند شوي وي خو د تربګنت او دښمنۍ تور دېوالونه لا هم زموږ په وړاندې وو کور ته په رسېدو مخامخ د خپلې مور خواته ورغلم له ځک نه یې په کټوو کې شړومبې اړولې وې بې واره مې ترې وپوښتل.

مورې موږ ولې له ښکلا .......

د ښکلا کلمه مې ناڅاپه خولې ته راغله لږ تم شوم خو مور مې وار ړومبی کړ.

څنګه......څنګه؟

هسې ما ویل مور جانې موږ ولې د مشر کاکا سره دښمني لرو؟

په حوصله یې ځواب راکړ.

زویه ته دا راته ووایه چې هغه څومره ځمکه لري؟

ځواب مې ورکړ.

مورې د کلي نیمایي ځمکه دهغه ده خو دا په دې پورې څه اړه لري.

مور مې وخندل

زویه په دې کې د نیمایي نه زیاته زموږ وه خو خدای (ج) دې د بازمحمدي(کلیوالو مې کاکاته بازمحمدی ویل ) ته ښه ورځ نه ورکوي پلار ته یې دې ویل چې تا ټول عمر په ښار کې په پښتون او وزیپو تېر کړی زه د پلار مشر زوی وم او د ځمکې د ساتلو او کرکیلې ټول کارونه زما په غاړه وو ستا په حق مې تا ته واده وکړ نور

نو د ځمکې ○ ○ ○ ○ ○ ○ ○ ○

حق نه لري دمورپه خبرو مې بازمحمد کاکا ته په لومړي ځل زړه له غوصې او انتقامه وپړسېده خو د ښکلا مقام لاپه هغه ځای وو. تورې غټې سترګې، ګڼې زلفې او پیاوړي اندامونه یې لا هم زما لپاره د ستاینې وړ وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دژوندیوه زیاته برخه مې همداسې دیوې پټې مینې په خونداودردکې تېره کړه له دولسم ټولګي نه له فارغېدو سره سم مې پلار ښارته د ځان سره بوتلم دوه درې ځایه یې په کورسونو واچولم چې کانکور ته تیاري ونیسم پلار به مې له دفتر نه ووزګار شو نو د خپل دفتر په موټرکې به یې هرې خواته ګرځولم زه پوهېدم چې د هغې ټولې هڅې ددې لپاره دي چې ما له ښار سره عادت کړي او دکلي مینه او ښکلی انځور مې له ذهن نه ووځي او په ښار کې له ژوند سره اشنا شم د ښار په ځېنو پارکونو کې مې طبعه ولګېده کورس ته به مې د پلار په غوښتنه دریشي اغوسته او سم کابلی ښکارېدم.
یوه ورځ چې ماښام کوټې ته راغلو پلارمې وویل چې زه سهار وختي یوځل کلي ته ځم ته به په وخت کورسونو ته ځې او دلته به درته دفتر اشپز خدمت کوي او دفتر اوکورس ته به دې بیایې زه غواړم د مور او خورګانو احوال دې واخلم زما زړه هم غوښتل چې لاړ شم خو پلار مې راسره موافق نه وو ویل یې چې کورسونه دې ووایه که لاړشې غیرحاضرېږې.
سهار وختي چې راپاڅېدم نو د پلار ځای مې خالي وو ، پوه شوم چې د کلي په لور تللی دی، دهغه په غیاب کې چېرته نه ګرځېدم په خالي وختو کې به تلویزون او کمپیوټر ته ناست وم، اکثره وخت به مې فلمو نه او سریالونه کتل،چې ډېر ځله به ښکلو نیمه بربنډونجونو په کې نڅا کوله، خو ددې نندارې په لیدو به مې زر چینل بدل کړ او ذهن ته به مې یوه غرنۍ ښکلا ودرېده.
دنګه لوړه ونه،غټې تورې سترګې، مړاوي بانړه او په کې پرته حیا چې لامې هم د ښار په نجونو او خپلو ټولګیوالو کې ونه لیده.
پلار مې ویل چې شپه تېروم او زر راځم، خو په دې کې ان دریمه شپه ووته، د پلار درک مې ونه لګېده ،د اشپز سره مې هم نه لګېده ګوډه ماته پښتو یې ویله چې زه به پرې نه پوهېدم.
یوه ورځ یې راته وویل:
اغا دې د دفتر ملازم جمروزی ام کې ځان کې بولی دی د هغه په خبره مې وخندل پوه شوم چې مطلب یې دا وو ، چې پلار دې د دفتر ملازم جمروز هم له ځان سره بولی دی
څلورمه ورځ په کوټه کې تلویزون ته غزېدلی وم، په یوه خپرونه کې په کلو او اطرافو کې د روغتیایي وضعت په اړه رپوټ وړاندې کېده، چې کورونه یې کټ مټ زموږ د کلي غوندې وو ،یو کلینیک یې ښوده چې ښځې ورته کلکې ولاړې وې دوه درې نجونې هلته ځانته ولاړې وې، او یو دبل سره یې خبرې کولې خو د کمرې نه یې مخونه پټ کړي وو ،دښکلا یادونه مې بیا په زړه راوورېدل،دخوبونو په څېر کلي ته ولاړم، بیا د تربګنۍ او دښمنیو تور دېوالونه زما په مخ کې ولاړوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګورم چې ور خلاص شو یوې وړې لس کلنې نجلۍ رامنډې کړې او پر مایې منګولې ولګولې، په وېره راپاڅېدم ګورم چې  نجلۍ زما خور رڼا ده، په حیرانۍ مې په غېږ کې ټینګه کړه، او په مخ مې ځو دمینې ځپېړې ورکړې، خو مخکې له دې چې څه ورته ووایم رڼا وار ړومبې کړ.
سلطان لالا راورسېدو ټول راغلو ، ادې ام راغله دروازه مو بنده که، په دې کې مې  پلار هم راننوت چې وینځلې لاسونه یې په لاس پاک وچول په خندا یې را غږ کړ:
بچیه ! اخېر مې کابلی کړې وا ه وا....په دریشۍ کې ځومره ښه ښکارې.
دواړو دمه جوړه کړه، او بیا درې واړه له کوټې ووتو ، په موټر کې کېناستو په کړو وړو کوڅو کې روان شوو له څه مزله وروسته مې پلار دیوه نسبتاً جوړ کور په دروازه کې هارنډ وواهه، چې ګورم دروازه خلاصه شوه، او کوچنی وروړ مې بلال راښکاره شو ، وړاندې ننوتو کتل مې چې درې نورې خورګانې او مور مې دیوه کوچني دهلېز دېوالونو ته پرېشانه ناست دي، ټولو ته په مینه ورغاړې وتم، او پلار مې په فاتحانه انداز د کلي نه د کډې رابارولو مخکې له مخکې د کور نیولو کیسه بیان کړه، او بیا مې یې د مور په اوږه لاس کېښود ، ماته یې وکتل
دی مې ځکه نه خبرولو ماویل چې هسې نه پرېنګ په ژړا شي.
په منډه زموږ د نوي کور په کوټو وګرځېدو درې ځلور کوټې وړکی انګړ په کې څاه او د انګورو دوه درې تاکونه وو ، وړاندې جمروز هم لګیا وو په کوټو کې پرشونه غوړول، دمور مې چورت خراب وو ، پوه شوم چې زما غوندې ددې هم له کلي زړه نه کېده ،خو خورګانې مې له خوښې په جامو کې نه ځایدې.
مور ته مې زه هم خفه وم، او ځان مې د انګورو د تاک په سمولو بوخت کړی وو ، چې په دې کې مې پلوشه خور ځنګ ته راغله.
سلطان لالا ادې په غوا په پسې خفه ده، هغه مو د ښکلا دوی کره پرېښوده او موږته به یې هم مستې او تروې رالېږي .
دښکلا د نوم په اورېدو مې زړه ټکان وکړ،اوچت مې  رنګ لږ بدل شو ، لکه پلوشه چې هم راباندې پوهېدلې وي، را وړاندې شوه او په ټیټ غږ یې له خولې ووتل، ډېر یې در پسې ژړل خو............
ددې سره یې دمور په خوا منډه کړه او زه هم شرمینده دانګوروترتاک لاندې پاټې شوم

*****

د یو کال په موده کې زموږ کورنۍ له ښار سره عادت شوه، کوچنی وروړ مې بلال او ځلور خورګانې مې پلار په ښوونځي کې اچولې وو ، او زه هم په کانکور کې د کابل پوهنتون د ژبو ادبیاتو پوهنځي ته د خپلې خوښې سره سم بریالی شوم ، او زده کړې مې پیل کړې خو لاهم د ښاري ژوند سره پوره جوړ نه وم، د خپلو ټولګیوالو نجونو په لیدو سره سره هماغه غرنۍ ښکلا زما خیال و ذهن کې خوره وه، او یاد به یې یو ډول نشه کړی وم، تر مړاو بڼو لاندې غټې اوله حیا ډکې سترګې او غښتلي اندامونه، اوپه وړاندې مې دکرکې اوترپګنت تور دېوالونه دښکلا له یاد سره ملګري وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار مې داسې مصروف کړی وم چې کلي ته د تلو خيال هم راسره نه وو ، کله به مې چې پلار ته خبره ور ياده کړه چې کلي ته مې زړه شوی او پتنګ يم نو غوصه به شو.
بچيه کلی اوس د تربورانو ځاله ده، تربور د لستوڼي مار دی د مارانو له ځالې دې چې څومره وس وي لرې ګرځه، په دې وخت کې به د پلوشې پر شونډو غلې غوندې موسکا خپره وه، او کله به يې د لاس په ورغوي په پيکه ډول رنګ د ښکلانامه ليکلې وه،ما څو ځلې په هغې لاس اوچت کړدو هلو ګوابن مې ورته وکړخو ، هر ځل به يې د پلار د خبرولو ګوابن راته کاوه، چې زه هم ترې و ېرېدلم.
يوه ورځ په ټولګي ناست ووچې د فلسفې استاد ټولګي ته راننوت، هغه که څه هم په موړ رسمي ساعت نه درلود ، خو کله کله به راغی او زموږ د ټولګيوالو سره به يې اوږده بحثونه کول، هغه بوډا وو ، لويه سپينه ږيره، اوږدې څڼې او وچه کلکه څېره يې لرله، چې د فلسفې په برخه کې يې په کوم بهرنې هېواد کې زده کړه کړې وه
خو نجونو د رحمان بابا نوم پرې ايښې وو، يوه ورځ د يوې د خولې نه ناڅاپي هغه ته همدغه درحمان بابا کلمه ووته استادورته څه ونه ويل خو خپلې يوې بلې ملګرې دومره سپکه کړه چې بيا يې کله هم دانوم ورته وانه خيست.
ورته يې وويل له خدای مې ځار کړې، ته اوس دا چرسي د رحمان بابا سره برابروې، رحمان بابا خو صوفي او عارف انسان تېر شوی، خو خدای خبر چې پوهاند صيب به په بهر کې د تحصيل په مهال څه لوبې کړې وي،د اوږدې سپينې څڼې او ږيره خو يې اوس اوس پر ېښې
دفلسفې استاد چې راننوت، زه د رابندر رانات ټاګور د ګيتا انجلي په مطالعه بوخت وم، او د بنګال شنو ځنګلونو او سمسورو ساحلونو ته تللی وم، چې ټاګور صيب په کې خپل تل پاتې سرودونه ويلې وو، استاد ټولو ته د ارام کېناستلوا شاره وکړه، او بيا يې په دواړو لاسونو خپلې متې ونيولې، د ټولګي په مخ کې په قدم وهلو لګيا شو ، کله به يې د کړکۍ خواته او کله به يې د هغو نجونو خواته کتل چې د ټولګي په کونج کې په خبرو لګيا وې، او قلمونه يې خوځول.
له يوې شېبې چوپتيا وروسته استاد د خپل لاسي بيک نه يو کتاب را وويست، او بيا يې زما خواته وکتل،
سلطانه پاڅه:
کتاب مې بند کړاو په وارخطايۍ پاڅېدم، بې له څه مقدمې يې پوښتنه رانه وکړه.
سلطانه ښکلا پېژنې؟
زړه مې ټکان وخوړ، قلم مې له ګوتو په مېز ولوېده، اوف خدايه ! دا بلا هم راباندې خبر دی......
په ذهني کشمکش کې اخته وم ګوتې مې رېږدېدلې، ټولو سترګې په ما کې ګنډلې وې، او زما لړزانده څېره يې څارله.
دلينا په نوم يوې ټولګيوالې زما له شاتنې قطاره راغږ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاده ښه پوهیږي، خو له بده مرغه دبیان لپاره د نوو الفاظو له قحطۍ سره مخ دی، که لږ وخت ورکړې ځواب وایي، دهغه هسې هم دغه کلاسیک تعریفونه نه خوښیږي
ټولو وخندل زه بیا هم په خیالونو کې ډېر لرې تللی وم، دیوې غرنۍ ښکلا په ننداره بوخت وم.
تر مړاوو بڼو لاندې له حیا ډکې تورې سترګې او غښتلي اندامونه او تر منیځ یې ولاړ د تربګنۍ اودښمنۍ تور دېوالونه.....
استاد چې زما ځواب ته منتظر وو، زما په اضطراب او پرېشانۍ پوه شو، یو قدم وړاندې راغې
یا په بل عبارت ښکلا څه ته وایي؟
دا ځل مې زر ځواب ورکړ:
ښکلا د خدای تعالی په مخلوقاتو کې یو لږ هغه ځانګړتیاوې دي، چې موږ یې په لیدو دخوښې احساس کوو، او روحي تسکین مو پرې حاصلیږي، دغه ځانګړتیاوې کوم ځانګړې قوانین نه لري،بلکې دا پرېکړه زموږ په واک کې ده، چې د ې تعریف او بیان ته څه ډول جامې وراغوندو
واه واه ډېر اعلی.
استاد لاسونه وپړکول بې له دې چې زما سم او ناسم معلوم کړي، لینا ته یې ګوته ونیوه، ته پاڅه د سلطان په خبرو کې څه زیاتوې یا کموې اوس دې د تبصرې وخت دی
لینا پاڅېده نرۍ سپینې ګوتې یې پر مخ او شونډو تېرې کړې او له یو عالم اداګانو سره په خبرو شوه
استاده همدغه پوښتنه ځواب کړم ؟
هو په دې اړه خپل نظر ورکړه چې په اصطلاح ښځې ښکلا څه ته وایي.
استاذه ښکلا خو زما د تره لور ده چې په نهم ټولګي کې درې ځلې ناکامه شوه اوس نو په کور کې د تورو دېوالونو شاته ناسته ده، ټولو په کړس کړس وخندل استاد به هم د معمول خلاف له خندا نه په ملا کوږ شو خو زه یو ځل بیا کلې ته تللی وم،
تر مړاوو بڼولاندې غټې او له حیا ډکې سترګې ، دغر نۍ ښکلا غښتلي اندامونه مې سترګوته ودرېدل چې لایې هم په وړاندې د تربګنۍ او دښمنۍ تور دېوالونه ولاړ وو.
خو لینا دا ځل جدي شوه او خبروته یې دوام ورکړ:
استاده ! ښکلا د ژوند د تکمیل د فرشتې نوم دی، اویا هغه زرین تاج دی، چې د چا په سرکېښودل شو، نو په هره خاوره او دنړۍ په هر هېواد یې باج چلیږي، ښکلا هغه نابللې مېلمنه ده، چې په هره مېلمستیا او محفل کې یې قدر کېږي، خدای (ج) چې په خپل عظمت دا نړۍ پیدا کړه، او په هر څه کې یې د ښکلا د رنګ او بوی سره زرغونه کړه ، هېڅوک دا حکم نه شي کولی چې په دې او یا هغه شي کې ښکلا نشته زه له ښکلا نه منکر ړوند اویا که لږ ورتېره شم کافر ګڼم، ځکه چې ښکلا په هر څه کې شته،
خو توپیر زموږ په سترګو کې دی، ځکه نو دښکلا پېژندنې پوهان په دې نظر دي، چې ښکلا د نظر تابع ده، په یوه ګلدان کې که د چا سور رنګ خوښیږي نو دبل چا به خوښ نه وي، ژیړ یا سپین رنګه ګل به

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوښوي، ممکن زه په دې ټولګي کې د ډېرو ښاغلو خوښه یم، خو ځېنو ته به بدرنګه ښکارم، ددې نه معلومېږي چې زموږ نظر د ښکلا تابع دی،او ښکلا کله هم زموږ د نظر تابعداره نه ده.
په ټولګي کې بیا د خندا ګانو اوازونه پورته شوه لینا په کېناستو کې بیا یوه خبره وکړه.
البته ذوق په کې ډېر مهم دی متاسفانه ډېر ښاغلي د ذوق د معیار نه محروم دي، نو ځکه یې زه په ښکلا پېژندنه کې ډېر پیاوړي نه ګڼم.
استاد لاسونه وپړکول.
او لینا ته یې په خندا ورو کتل
شاباس وروستې خبره دې ډېره په زړه پورې ده.
خبره داده چې زموږ د هېواد په پوهنتونونو کې بیوټې سبجیکټ (دښکلامضمون ) ته خاصه توجو نه ده شوې، خو په امریکایي او اروپایي یونورسټیو (پوهنتونونو ) کې ورته خاصه پاملرنه کېږي، ځکه چې دا دانسانانو له ژوند سره د سایکولوجي(اروا پوهنې)په څېر تړلې ده او ډېر محصلین په کې تخصص اخلي،نو ډېر کسان بیا ښکلا ممکن یوازې د انسان د ظاهري بڼې زړه راښکونتیا او ښایست ته وایي، لکه څنګه چې هر کال د نړیوالو له خوا دنړۍ په نجونو کې د هغې ظاهري صورت ته په پام سره د ښکلا مالکه ټاکل کېږي دا هم درسته ده، اما ددې نه هم سترګې نه شو پټولی، چې د هېوادونو پولې او ټولنیز معیارونو ښکلاته بدلون ورکولی شي، زه چې په امریکا کې اوسېدم ښکلې نجلۍ هغه وه، چې ډېر ملګري، طلایي زلفې، شنې سترګې او بې پردې جامې به یې لرلې، خو دلته په افغانستان کې بیا هر څه ددې برعکس دي، نو یو انسان ته ښایي چې معنوي او ظاهري ښکلا دواړه ولري، زه فکر کوم چې دغه دواړه ښکلا ګاني په ګډه یو دبل تکمیلوونکې او د ښکلا د یوې سترې هستۍ انځورونکې دي، ظاهري ښکلا فطري اړخ لري، او دښکلا د خالق ورکړه ده، خو په معنوي ښکلا چې په وجود کې باطني اړخ لري،دانسان په لاس کې ده چې فصل یې دهغه د زیار او هڅو له سمندره خړوبېږي، او د حاصل مرحلې ته رسي.
استاد خبرې بس کړې او شا ته یې اشاره وکړه، چې پاڅه ورو مې کتل ګورم چې نیلوفر ګوته اوچته کړې پاڅېده او خبرې یې په حیا ناکه لهجه پیل کړې
استاده پښتانه ولې وایي چې
دا خپل ښایست راته بلاشو
چې چېرته ځمه هلته بل شي سره اورونه
نیلوفر کیناسته او استاد خبرې وغځولې
لورکۍ خبره داده چې زموږ په ټولنه کې ډېرې نیمګړتیاوې شته، دلته ټولنیز اداب نه مراعت کېږي، لا د افهام او تفهیم فضا نه ده غوړېدلې، ستا ټپه اصلاً دیوه ښکلي یا په بله اصطلا ح د ښکلا د څښتن شکایت دی، چې مطلب مې انسان دی، هغه ګوري چې د هر چاله خوا ځوریږي شپېلي پسي وهل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي، او د هغه چا چې ښکلا نه پرې لورېږي، ډول ډول خبرې پسې کوي نو ځکه هغه د بدرنګۍ ارمان کوي، چې ای کاش خدای ج بيخي ښکلې پيدا کړې نه وی
استاد لا خبرې کولې چې د کره کتنې استاد ور ټک ټک کړ، او د خبرو موضوع واوښته، خو ددې ټول بحث په جريان کې د ښکلا د لفظ هر تکرار په ما خولې راماتې کړې وې او په زړه کې مې د درد څپې په خوربدو وې.

○ ○ ○ ○ ○ ○ ○ ○

زه په زړه کې همدغه دردونو خوړلم ، کله به په وينښه هم د کلي کوڅو او کروندو ته تللی وم، او د يو چا لپاره به مې د باز محمد کاکا لاسونه ښکلول، تر مړاوو ښو لاندې به د تورو حياناکو سترګو په ننداره بوخت وم خو د تربګنۍ او دښمنۍ تور د يوالونه به مې مخ ته ودرېدل
مور او پلار به مې چې ماذيګر د کور په انګړ کې سره کېناستل نو زما په اړه به يې خبرې کولې،پلار به مې مور ته ويل
خدای ج خبر چې دا الک به کله د ښار رنګ اخلي،هروخت يې د ټوغکي وهلي چرګ په څېر په وينښه سترګې پټې وي
زه نه پوهېږي چې ده هلته څه ليدلي، دلته په ښار کې مې ورته هر څه برابر کړي، چې څه وو ايي ورته حاضر وي، اخر دا نجونې(خورګانې )مې هم په کلي کې رالويې شوې خو ته ګوره چې راغلې بيا يې ولاکه د کلي نوم هم اخستی وي.
ددې خبرو په مهال به ډېر ځله ما يوازې کتاب مخې ته کتاب نيولی وو ، خو زړه او حواس به مې دواړه د مور او پلار خبرو ته څک وو.
د پلوشې به چې ماته پام شو ، نو د يو شرارتي موسکا سره به يې يوازې سترګې کش غوندې کړې، او ما ته به يې په مانا داره نظر وکتل.
زه پوهېدم چې پلوشه په هرڅه خبره ده، ممکن هغه مهال چې په کلي کې اوسيدو ، خپله ښکلا څه ورته ويلي وي، ځکه د هغوی تر مينځ به دتربګنيو او دښمنۍ سره سره زمونږ په ګډه باغچه او د چينې په غاړه خبرې تبادله کېدلې، خو د مشر ورور په توګه په هغې دومره ګران وم، چې دا هر څه يې د راز په ډول ساتل زه خپله هم ځينو هغو بدلونونو ته حيران وم، چې په ځان کې مې حس کول او په ښار کې د استوګنې وروسته راته پيدا شوي وو ، تل په يوازېتوب کې خوښ وم، او په ځوانه ځوانۍ کې دلويانو غوندې عادتونه راکې پيدا شوي وو ، هر څه ته مې له پخوانه په ځير ځير کتل، خو په هر څه مې دومره زر باور هم نه کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله به لرغونې کیسې رایادې شوې، چې ما په کلي کې لوستې وې او څه مې سپین سرې انا راته کړې وې، په هغه کیسو کې به مینان اکثره وخت غرونو او ځنګلونو ته تلل او یاتبنتېدل ، او هلته به په ریاضت،راز او نیاز بوخت وو ، کله به مې فکر کاوه چې د زړه له تله مین یم او له زړه مې کله هم غرنۍ ښکلا نه وځي

زه پوهېدم چې د ښار نه وړاندې هلته په یوه سمسورکلي کې چې د یوه بهاند سیند په غاړه اباد وو تر مړاوو بڼو لاندې تورې غټې او له حیا ډکې سترګې د خپل تربور لار څاري، خو ددغه ځار په مقابل کې د تربګنۍ او د ښمنۍ تور دېوالونه ولاړ دي،ما به لیدل چې ښکلا ما هم نه شي هېرولی، هغه به هر سهار او ماښام د بالاخانې بام ته خیژي او کلي ته به له ښاره راغلی سرک څاري.

کله به دا وېره هم راسره وه، چې هغې به په ما باور له لاسه ورکړی وي، فکر به کوي چې زه د ښار په نجونو کې ورک شوی یم، همدغو اندېښنو زه د یوازېتوب په ناروغۍ اخته کړم،نور چې د مور او پلار له پرلپسې پوښتنو ګروېږنو په تنګ شوم، یوه ورځ مازدیګر مهال همداسې له کوره ووتم د ښار په وړاندې څنډه کې مې په یوه لوړه غونډۍ سترګې ولګېدې چې څو شنې ونې او اوسپنیزې پایې پرې ولاړې وې،یو چیپټر او د څو کلاسیکو شاعرانو دیوانونه مې راسره واخیستل چې یو د رحمان بابا او بل د حمید مومند وو ، له ځان سره مې یوړل ما ته د ښکلا یاد او یوازیتوب دا فایده وکړه، چې مطالعې او درس ویلو ته یې مجبور کړم،ډېر وخت به مې د حمید مومند تلپاتې شعرونه ویل،او د ژوند انځورونه مې په کې موندل د هغې ښکلا په اړه مې فکر کاوه، چې دحمید مومند صیب غوندې عظیم شاعریې د داسې دردونکو خومینه ناکو شعرونو پنځولو ته مجبور کړی وو.

حمید بابا راته د شاتو دهغه مچۍ په څېر ښکارېده، چې د ګلونو زړه ته ورننوزي، له هغه نه رنګارنګ شیره راټولوي او بیا ورنه شات جوړوي، دهغه په تلپاتي شعرونو کې دمینې داسې خواږه انځورونه او خواږه دردونه د وږمې په څېر نغښتي وو.دردېدلو زړو ته په اسانۍ سره ننوتل.

غونډۍ ته په رسېدو مې د یو ه ختیځ جومات په رنګه مناره سترګې ولګېدې، چې په خپل لرغونتوب سره سره په ویاړاورعب سره ولاړه وه ،او توتکیو ورنه طوافونه کول دا همدغه د ابراهیم بن ادهم جومات وو، چې په لیدو یې له واره د خپل کلي لرغونې او زړو جومات را په یاد شو، چې په ماشومتوب کې به مې د ملا بهادر نه په کې د الفبا سپاره لوستله، د کلي ټول ماشومان به راسره په یوه قطار کې ناست وو ، هاخوا به دنجونو په قطار کې ښکلا هم د سبق په ویلو ټالونه خو ترمینځ مو هلته هم د تربګنۍ او دښمنۍ تور دېوالونه ولاړ وو.

د ابراهیم بن ادهم په جومات کې مې زړه ایله یو څه تسکین پیدا کړ، په کتابونو او ذکر، فکر کې مې پنا ه واخیسته، ما د ابراهیم بن ادهم په اړه ډېرې کیسې اورېدلې وې، په ذهن کې مې د هغه یو ډول څېره انځور کړه، او په یوازې و غځېدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپه پس په کلي کې وم، د غرمې لس بجې وې، په کلي او کرونده کې مړاوې ورېمه چلېده، د شولو په فصلونو کې د چنګښو منظم اوربدل کېده، له باغونو او باغچو د مرغانو اوازونه راوتلل، د غنمو د رسيدلي فصل د يوه پټي په پوله ناست وم،ورېي مې شکول او ځان مې ورسره بوخت کړی وو، د ښکلا دوی باغچې ته مې کتل، چې د نجونو او ماشومانوشو په کې شور وو، ګورم چې بازمحمد اکا زما خواته راروان دی، ما غوښتل لاره ورنه چپه کړم، خو د هغه په شونډو د معمول خلاف موسکا خوره وه او ما ته يې کتل، په رارسېدو يې غېږه راته خلاصه کړه.
واه واه سترګې مو روښانه.
سلطان وراره مې راغی، ايله په ايله چې د مودو وروسته درياد شوم.
په غېږه کې يې ټينګ کړم، خو زما خوله له حيرانۍ وازه پاتې وه، بازمحمد کاکا او په کې د داسې بدلون راتلون، حيران وم
دواړه په مينه د هغوی کور ته لاړو، زړه مې له خوښې باغ،باغ وو، په انګورو کې د ونې سيوري ته کېناستو، ګورم چې ښکلا مو مخې ته چای کېښود، او د لومړي ځل لپاره يې د سترې مشي لاس راکړ، تر مړاوو ښو لاندې توري غټې او له حيا ډ کې سترګې، او غښتلي اندامونه، چې ترمينځ مو نن د کرکې او تربګنۍ د يوالونه نړېدلي وو،
خو ای کاش!
دابياهم ديوه ناکام مين خيال وو
په حقيقت کې هېڅ نه وو
چا مې په تندي لاس راکېښود او زما د پلار په څېر يې په مهربانه لهجه وويل:
پاڅه شاباس اودس تازه کړه، له خېره د جمعې وخت دی.
پاڅېدم د يو ې سپېڅلي قوارې او نورانې مخ خاوند مې مخې ته ناست وو،او د حميد مومند د ديوان پاڼې يې اړولې، په ټول جومات کې چوپتيا خوره وه، په شلګونو بوډاګان او د پاخه عمر خاوندان په ذکر بوخت وو، همدغه کس چې زه يې پاڅولم د جومات ملا امام ملا شمس الدين وو،په لومړي ځل وپوهېدم چې پوه اومهربانه انسان دی په څېره کې يې نوراني وړانګې حس کېدلې، په پوهنتونونو کې يې هم د زده کړې مخالفت نه کاوه، ويل يې چې په يوه کورس کې انګلسي او کمپيوټر زده کوي، او خپله هم يو وخت د پوهنتون محصل وو، چې بيا يې د شرعياتو پوهنځی د کورنيو ستونزو په سبب په دوهم ټولګي کې پرېښود.
ملاشمس الدين د رحمان بابا اکثره شعرونه په يادو ياد کړي وو، او زما د ورتګ سره به يې د حميد مومند شعرونه لوستل، او داسې ارام به ورته ناست وو، لکه کوم مقدس کتاب چې مطالعه کوي، ځينې د خوښې بيتونه به يې په کتابچه کې ليکل، او کله کله خو به يې ورباندې تبصره کوله، يوه ورځ يې د مازديګر له لمانځه وروسته راته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطانه ! مورې ته يې په ښوونځي کې ويلي وو، چې عبدالحميد صيب ته موشګاف هم وايي، چې د وېښته سوري کوونکې مانا لري.خو زه اوس پوه شوم چې هغه ته دغه لقب ورکړه څومره په ځای ده، زه پخوا يوازې د عبدالرحمان بابا سره بلد وم، اوس فکر کوم چې عبدالحميد صيب هم يوه بله ستره هستي ده.

ته دې ته ګوره

دا زما له غمه شين زړه په کې خيال د يار د شــونډو
هسې رنګ زيب او زينت کا لکه مې په شنه پياله کې

د ملا شمس الدين له خولې د دې بيت اوربدل، او انتخاب زما لپاره يو لوی افتخار وو، خو وروسته پوه شوم چې د هغې په زړه کې داسې څه نه شته، يوازې په شعر کې کاربدلې او نادره تنبيه او ژوره نازکخيالي يې مطلب ده.

دهغه سره له څه وخت تېرولو وروسته پوه شوم، چې د شعر دوزن،قافيې، معاني او ادبي فونونو په اړه پوره معلومات لري او فکر يې يوازې په ديني کتابونو کې نه دی محدود کړی.

هغه د خپلې ټولنيزې پوهې اوغوره اخلاقو په سبب د تېرو لسو کالو په سبب د جومات ملا وو، د کوڅې يوه شتمن کور پيسې ورکولې چې دهغه په معاش کې حسابېدې ، بله مهمه لا دا چې واده يې هم په مينتوب کړی وو.

د ابراهيم بن ادهم په جومات کې له وخت تېرېدو، او د ملاشمس الدين سره له بحث او مجلسونو مې دومره ګټه واخيسته، چې ډېرې اند ښېنې مې له ذهن ووتې، له ژورې مطالعې سره روږدی شوم،په ټولګې کې د نجونو نازدانه کتو،اداګانواو خبرو دومره اثر راباندې نه کاوه، او د ډېرې په څېر وچ کلک وم.

خو ديوې غرنۍ ښکلا انځور، تر مړاوو ښو لاندې تورې غټې له حياډ کې سترګې،غښتلي اندامونه او دتربګنۍ او دښمنۍ تور دېوالونه لا هم له ځای وو.

يو مازديګر چې په جومات کې ناست وم، خبرشوم چې ملا شمس الدين د دوو درېوو ورځو لپاره کلي ته د خپلو دوستانو ليدو ته تللی وو، هغه ماته ويلي وو چې اصلاً د کلي سړی دی، خو وروسته ښار ته راغلی، په زړه کې مې وويل چې څومره بختور دی،چې کلي ته د تلو اجازه خو لري، هلته به هر څه ګوري.

زماسره همداويره وه چې پلار به مې لا اوس دا هم وايي چې هلته پنتوني (پوهنتوني)هلکانو ته خطر دی، څوک ورته په ښه نظر نه ګوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن ماښام وختي له جوماته ووتم، کتابونه مې په څمکه کېښودل او د بوټونو په پښو کولو لګیا شوم، ګورم چې د جومات درو ته یوه ښځه چې کوچیانۍ جامې یې په تن دي،له یوې وړې څلور کلنې نجلۍ سره ناسته ده، وړه ماشومه په خاورو کې خلې وهي او ښځه د جومانه راوتونکو لمونځ کوونکو ته له هیلې او سواله ډکې سترګې غړوي، د ښځې په لیدو مې زړه ټکان وخوړ، په سترګو کې یې په سلګونو هیلې په څپو وې او یو ډول زړه راښکونتیا په کې موجوده ده

د ابراهیم بن ادهم د جومات مخې ته کله هم د ښار د نورو جوماتونو غوندې سوالګر نه راټولېدل، ددغه ښځې راتګ هم دمعمول خلاف وو، خو ما چې کوم سوالګر لیدلي وو له هغې سره یې فرق لرلو، بله دا چې د کلیوالو او کوچیاني جامو نه راته کومه کلیواله ښکارېده ، او له واره پرې پوه شوم چې سوالګرۍ ته یې نوې مخه کړې، او د ښار د ماهرو سوالګرو غوندې نه ده

زما د ودرېدو په مهال هغه خپلې سترګې د حمید مومند په دیوان ګنډلي وې،او په ځیر ځیر یې د یو خریدار په سترګه ورته کتل، له جېبه مې یو شلګون راویوست،خو وروسته زړه نا زړه شوم په دې نه چې په پیسو مې زړه نه کېده، په دې چې د هغې په مخکې نه د پیسو کوم نوټ وو، او نه یې په ژبه له مانه سوال کړی وو، له دې وېرې چې هسې نه څه راته ووایي،غلی ورنه تېر شوم ، د هغې له معصومې څېرې او اشنا سترګو پوره اغېزمن وم، او تر کوره مې په خیال کې ګرځېدې، کله به مې ځان په دې ملامتوه چې ولې مې پوښتنه ورنه ونه کړه؟

ولې مې ورته ونه ویل؟

چې څه مجبوریت لرې؟

او دا ماشومه درسره څوک ده؟

له کوم کلي راغلې یې ؟

ماته د هغې له سترګو معلومه شوه چې سوالګره نه ده، بس دا زماا شتباه وه چې بې جرئته او بې زړه شوم، هغه یو کلیواله وه دیوې کلیوالې په ژبه د یوه ښاري په ځای یو کلیوال ښه پوهیږي، زه په خپلو کلیوالي جامو کې اشنا او کلیوال ښکارېدم نو ځکه یې په لېوالتیا لومړی په ما او بیا زما په کتابونو سترګې خښې کړې وې.

○ ○ ○ ○ ○ ○ ○ ○

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلارمي د کوټې په غولي زما له خورگانو سره د سطرنج په لوبه بوخت وو د ټوکو او خنداگانو اوازونه يې ان په انگړ کې اورېدل کېدل مور مې کړکۍ ته نږدې قران شريف په داسې اواز تلاوت کاوه چې يو ازې د شاتو دمچۍ غوندې بنگاری يې اورېدل کېده پلوشي څو ځله پرله پسې زما پلارجان ته ماتې ورکړه او ټولو ورپورې وخندل په وروستي ميدان کې يې پلوشې ته په سر يوه سپکه څپېړه ورکړه او په خندا شا په تخته وغځېد .

زما په ليدو په ځای کې لږ راسم شو

سلطانه څنگه يې کلی دې ياد پرې او که نه؟

زړه مې ټکان وخوړ په زړه کې راته لږ څه شک پيدا شو چې هسې نه...............

خو بيامې ځانته په خپله ډاډ ورکړد پلار به مې چې طبعه جوړه وه نو بيا به مو ټوله شپه ورنه خوب نشو کولی ټوکې ټکالې او خبرې به مو کولې

زماخواته يې وکتل زياته يې کړه

بچيه کليوال خلک به کله هم له وخت سره روان نه کړې زه په ماشومتوب کې تا غوندې په کلي مين وم خو وروسته وپوهېدم چې هغوی له وخت سره حرکت نه کوي او انسان بايد شېبه په شېبه خپل ژوند ته بدلون ورکړي د وخت له کاروان سره حرکت د هوښيارو انسانانو ځانگړتيا ده خو کليوال د خپلو ټولو خوبيو سره سره دغه نيمگړتيا لري ددې په ځای چې له دغه کاروان سره روان شي تربگنۍ او دښمنۍ کوي د پولې او پټې په سر خپل دوستان خفه کوي حتی وژني يې....

د پلارخبرو يو ځل بيا کلي ته بوتلم او په ناسته ټال وزنگولم .ترمړاو بڼو لاندې تورې غټې حياناکې سترگې او غښتلي اندامونه او ترمينځ د تربگنۍ او دښمني ولاړ تور ديوالونه.

پلار مې چې زه چورتي وليدم په خنداشو فکر يې کاوه چې نصيحت به يې زما سترگې غړولې وي.

بچيه ژوند د بزکشۍ لوبه ده دلته به د خپل هدف سرلکی اوچتوې او منزل ته به ځان رسوې دلته که پاتې شوې بيانه يوازې چې ناکام بلل کېږې بلکې د خلکو پيغورونه دې هم انتظاردي بيا يې د تلوېزون بټن ته زور ورکړتلويزون روښانه شو او د کابل پوهنتون منظره په کومه علمي خپرونه کې راڅرگنده شو ه د ناجو او صبر ترونو لاندې نجونې او هلکان چې فيشني او نورې حيرانونکې جامې يې اغوستې وې گرځېدلې د نجونو په لاسو کې دلاسي بيکونو سره سره يوه يوه کتابچه ياکتاب هم په لاس کې وه او دومره سينگار يې کړی وو چې ته به وايې په کوم واده کې يې برخه اخستې ده

د پلار له گوتو مې له ډېرې حيرانۍ دتلويزون ريموډ ولوېد

په تعجب يې زياته کړه واه واه داد کابل پوهنتون دی که د نبراسکا بيايې ماته وکتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

زویه وړاند ې مې د بزکشۍ خبره مې درته کوله ګوره ته خو هم د همدغه پوهنتون محصل يې پام چې په دغه لوبه کې زړه ونه بايلې او په کوم رنګين جال کې ښکېل نه شې ماته پښتون (پوهنتون)معلوم دی پوه هلکان هر وخت د نجونو د توجه وړوي په يوه او بله لاره د هغه د موقف د ټيټولو په هڅه کې وي خوږ ېر هوښيار او سه په دې وخت کې مې مور قران شريف کت کړ لنډه دعا يې يې وکړه خو پلار مې پرې غږ کړ دعا ګاني ځان ته مه کوه کله کله مورږ ګناګاران هم په کې يادوه خپله خواسې ام(هسې هم) د خدای (ج )ګناګاريو مورمې ورته راوکتل

سړيه !وايي چې خوسکی د په اخور رالوی شوبيايې د غاښ کتلو اجت (حاجت ) نشته نه پويګم چې څنګه دې د ملايانو غوندې نسيتونه ورته شروکړي

پلار مې وخندل ځواب يې ورکړ

ګرانې په دې مسائلو ته نه پوهېږې دا ښار دی څه زمونږد غونډۍ کلی نه دی چې له هر څه دې بې پروا شو په تلويزون کې د يوې ښکلې سندرې په راتلو ټول سندرې ته څير شول او زما په خيال کې د غونډۍ کلي کلاګانې تر مړاوو بڼو لاندې تورې غټې غټې حياناکې سترګې او غښتلي اندامونه راوګرځېدل وروسته له دې به چې هر ماښام د ابراهيم ادهم له جوماته راووتم نو هلته وړاندې به دد ېوال سيورې ته يو لوی او بل کوچنی سيوری ښکارېده چې زما خواته به يې په لېوالتيا سره راکتل او ماته به يې سترګې يو ډول اشنا ښګاره شوې خوږ ېر زر به د تيارو په څپو کې ورکې شوې او تر ړمې به هر څه پنا ه کړل.

يو ورځ مازديګر په جومات کې په تنګ شوم کتابونه مې راسره واخيستل او د جومات وړوکې برنډې ته ووتم ګورم چې هماغه ښځه د جومات وره ته نږدې ناسته ده ښکلې کوچياني جامې يې په تن دي او له ماشومې سره يوځای زما په خوا راګوري دا لومړی ځل وو چې هغې ته مې مخامخ وکتل په نظرکې يې د زړه راښکونتياسره يوډول وېره،او لېوالتيا هم نغښتې وه تر مړاو بڼو لاندې غټې تورې او حياناکې سترګې او غښتلي.........

نه نه وچ کلک اندامونه د هغه سره نه د سوالګرې پيسې وې او نه يې د سوالګرو په څېر هرچاته لاس نيوه ماډ ېرې سوالګرې ليدلې وې چې د جوماتونو مخ کې به ناستې وې او د لمانځه نه وروسته به يې لمونځ کوونکي له لمنې رانيول او پيسې به يې غوښتلې

زه نه پوهېدم چې د هغې سترګې راته په لومړي ځل ولې دومره اشنا ښکاره شوې هغه نه کومه عادتي سوالګره او نه د سوالګرۍ په چل پوهېده په زړه کې مې ويل چې کوم مجبوريت دغه کار ته اړکړې ده او بياهغه ورته والی چې د ښځې او وړې ماشومې نجلۍ په څېروکې وو بيخي د حيرانۍ وړ وو

يوه ورځ دجمعې په ماسپښين دجمعې له لمانځه وروسته ملا شمس الدين راته وويل چې ډېره حياناکه ښځه ده ماته کومه اطرافي پښتنه ښکاري چې د شرم او حيانه د ښار په نورو برخو او واټونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې سوال نشي کولی باید د جمعې په سر یوه غوښتنه وکړو او له خلکونه کومک ورته وغوړاو خدای او وس چې هر څه وشول اخېر دواړه هم پښتانه یو د کلي او سیدونکي یو.دهغې په ځېرژوندموکړي.

د ملا شمس الدین دا خبره مې خوښه شوه او پرېکړه موو کړه چې خبره یې د جمعې په سر یاده کړو

زه به د هغه په لیدو هر وخت له یو ډول ذهني کشمکش سره مخ وم اخېر هغه ماچېرته لیدلې !؟تر مړاو بڼو لاندې تورې غټې او حیاناکې سترګې چې هروخت به یې لومړی زما په لاس کې کتابونو او بیا ماته نیولې وې او حیران حیران به یې راکتل فقط لکه په چاچې د غرغرې حکم شوی وي خوپه دړه د ودربدو په مهال پړي ورباندې پرې شې

دملاشمس الدین سره تر دغه تصمیم وروسته مازدیګر له جوماته راووتمه زړه مې راغونډ کړ هغې له حیا ډکې سترګې زما په لاس کې د حمید مومند په دېوان ګنډلې وېیو پنځوش ګون مې له جیبه راووست او په چوپه خوله مې ورته ونیوه خو هغې سر ښکته کړ او زما د توقع خلاف یې کومه لېوالتیا څرګنده نه کړه بیا مې غږورباندې وکړ

واخله !!!

ورو یې تر ژبه لاندې وویل

نه...مننه

په حیرانۍ مې ورته وویل

نو څه غواړې ؟

هغه.....هغه.....کې... کتا

نوره غلې شوه د ماشومې نجلۍ په سر یې لاس راتېرکړ او له ویښتو سره یې ځان مصروف کړ

یو قدم وروړاندې شوم

څه غواړې ؟

هېڅ هم نه هسې دلته کینم

سرمې درد وکړه چوفه خوله روان شوم او دمخامخ واټ لاره مې ونیوه

عجیبه ښځه ده هم سوال کوي اوهم له کبر او غرور ډکه ده

هسې دلته کینم -----هسې دلته کینم

دا جمله مې څو ځله په سرکې وکړنګېده

کور ته په رسېدو خپلې کوټې ته لاړم وړاندې په انګړ کې پلوشه تر ونې لاندې ناسته وه او له نورو خورګانو سره یې د کومې مجلې پاڼې اړولې او ټولو خندل په کوټه کې اوږد وغزېدم د مایوسۍ اوماتو تر بوج لاندې وم ځان مې په دې ملامتوه چې ولې مې د خپلو خورګانوغوندې خپله ښه له په ښارکې بدله نه کړه ولې دهغوی په څېر خوښ او خوشحاله ژوند نه لرم اخېر دوی خوهم په کلي کی رالوېې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې وې هو زمانه يې هم خوږې همزولي او ملګرې هلته پاتې دي خونن له کلي دلته زياتې خوشحاله دي بله دا چې وخت ناوخت خپلې ټولګيوالې نجونې کورته راولي ټوکې ټکالې ورسره کوي
کلی مې په خيال کې وګرځېده
ترمړاوو ښو لاندې تورې غټې او حياناکې سترګې او غښتلي اندامونه او ترمينځ د دښمنۍ او تربګنۍ تور دېوالونه......بېرته جومات ته راغلم
هغه ښځه چې هره ورځ يې وينم اشنا اوله زړه راښکونتيا ډکې سترګې تر مړاوو ښو لاندې حياناکې سترګې او داسې سترګې چې نظريې پوره ورخطاکړې يم اوځان راته په سيندلاهوښکاري
تلويزون مې چالان کړ
په يوه شنه او سمسوره دښته کې د يوه کليوال زلمي ترمخ د وزو او پسونو رمه روانه وه لونګۍ يې په سر او ډانګ په لاس په رمه پسې روان دی او له ځان سره کومه سندره زمزمه کوي

سترګې مې ډکې ډکې کېږې
د لېونۍ مينې د لاسه

په دښته کې له شپونکي سندرغاړې سره يوه کوچۍ پيغله لرې لرې ګرځي کوچياني جامې يې په تن تر مړاوو ښولاندې حياناکې سترګې په غلاغلا د زلمي شپانه د راتلولاره څاري

نه چا جانان کړمه زه
نه چاارمان کړمه زه
له سندرې سره يو ځای په شنه دښته کې روان وم او کليوالې منظرې مې په خيال کې ګرځېدې په چورتونو کې ډوب تللی وم چې ور ټک ټک شو
پلوشه راننوته په خنداسره يې زياته کړه
واه واه لالاجان مې په وينښه خوبونه کوي په ځای کې راسم شوم پلوشه مې ترڅنګ کښېناسته اوخپله کتابچه يې وغوړوله
په بې خبرۍ مې ورته وويل
د څه لپاره راغلې !؟
زما د غوصې په ليدلو په مصوعي ډول جدي شوه
هسې ماويل يو څوپوښتنې راته حل کړه چې صبامې په معلم صيب ونه وهې
ورته مې وويل
مهرباني وکړه ډېرورخبروته ضرورت نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددري دکتا ب درې لغتونه مې ورته مانا کړل
د کتابچې پاڼه يې واړوله په غټو کرښو يې د ښکلا ليکلې کلمې ته ګوته ونيوه
لالاددې په مانا هم نه پوهېږم !
زړه مې ټکان وکړ
د خيال مرغه مې بېرته غرنيو ورشو ګانو ته لاړ يوې غرنۍ ښکلامې په ذهن زرينې اونرمې منګولې ولګولې ترمړاوو بڼو لاندې تورې غټې اوله حيا ډکې سترګې غښتلي اندامونه اوترمنځه مودتربګنۍ اودښمنۍ ولاړ غرونه
خور مې راباندې غږ وکړ
اخېرپه پوهنتون کې يې څه سخته پوښتنه خو مې درنه نه ده کړې
په ځای کې راسم شوم
فکر مې ګډوډ شوزړه مې غوښتل چې يوه درنه څپېړه ورکړم خو هغې وار ړومبی کړ
وروړجانه دومره هم بې عقله نه يم مطلب مې دادی چې ددې ښار د خلکو ژبې ته څنګه اوړي ؟
بد بد مې ورته وکتل
له ځانه سره يې په لوړ اواز وويل
زيبايي ....زيبايي.........
له کوټې ووته او وريې بند کړ
سبا ورځ چې د پوهنتونه راغلم په کورکې مې ډېر وخت تيرنه کړ د ماسپښين لمانځه ته د ابراهيم بن ادهم جومات ته روان شوم فکرونه مې هماغسې د تېرې ورځې په څېر ګډوډ وو د جماعت له لويې لرګينې دروازې نه د ننوتو په مهال چا د لمنې نه کلک ونيولم
کاکا......کاکا
يوه وړه ببر سرې نجلۍ ولاړه وه او کوچنی کاغذ يې په ګوتو کې کلک نيولی وو اومخامخ يې راته وکتل
کاکا دا.....
خبرې يې بندې کړې او کاغذ يې راته ونيوه په بيړه مې ترې وپوښتل څه دي ؟
په ماشومه ژبه يې ځواب راکړ
کاغږ(کاغذ )دی
کاغذ مې پرانېست په ښکلي پښتو خط پرې ليکل شوي وو
ښاغليه ښښنه غواړم ستا په زړه کې به د ګڼو شکونو د الفاظو مچۍ راګومبېدلې وي او هره شېبه به دې چيچې خو زه مجبوره يم هغه هم په دې چې زه کومه سوالګره نه يم ستا نه زما د غوښتنې مطلب د حميد مومند صيب ديوان دی هيله کوم چې د يو څه وخت لپاره يې راکړې چې د خپلې تنهايۍ د غمونو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

وزاړم ډاډه اوسه چې امانت به دې خوندي وي هيله کوم چې بل ډول شکونه د ې ذهن ونه خوري که باور راباندې نه لرې د جومات مخامخ پلازې ته د غونډۍ تر څنګ وړاندې خړې خيښمې زمونږ د استوګنې ځايونه دي
په درنښت
يوه بې کوره
سر راباندې وکرځېد مخامخ مې وکتل هېڅوک هم نه معلومېدل وړاندې پلازې ته مې وکتل له کوڅو نه اخوا د غونډۍ په خالي لمنه کې کېږديو ته ورته څو د رنګارنګ جنډونه جوړې خيمې ولاړې وې.
په لاس کې مې د حميد مومند ديوان ته وکتل او بيا نجلۍ ته ځير شوم چې د شلېدلو او زړو بوټو په څوکه يې ځمکه وهله
ور وړاندې شوم
داچا درکړ
ابۍ
ستانوم څه دی چګوفه (شګوفه)
زړه نازړه مې کتاب ورکړاوجومات ته ننوتم
فکر مې ګډوډ وو د ليک توري او کليمې مې په ذهن کې وګرځېد ې پوه شوم چې د کوم بې علمه او شډل مغزليکنه نه ده اونه يوازې لوستي کس ليکلې توري او الفاظ يې د کوم عادي ليکوونکي د خولې نه دي راوتلي
يوساعت وروسته چې ملا شمس الدين راغی ټوله کيسه مې ورته وکړه خو هغه دومره جدي ونه بلله يوازې په دې يې ټينګار ورکړ چې اړخلک دي له کوم ځايه رامهاجر شوي د مابنام له جمعې ورسته به د مرستې يو غږ ورته وکړو دغه سيا سره ماته ډېره درنه او حيانا که ښکاري بيايې وخندل
خو د عبد الحميد صيب ديوان دې هسې له لاسه و يوست ما به هم کله کله خپله ورکه په کې لټوله
ورته مې وويل چې امانت مې ورکړی له خيره ببرته يې راسپاري .
ملا شمس الدين وخندل
سلطانه د يوه انسان ښکلا په جامو او ظاهري مشخصاتو کې نه ده انسان په دې ښه ښکاري چې په سينه کې يې د ترحم او مهربانۍ ډک زړه ولري او په هر چاوسوزېږي
په شونډو مې خوره موسکا ورکه شوه
د ملاشمس الدين خبرې مې په سر کې انګازه وکړه
سلطانه د يوه انسان ښکلا په جامو او ظاهري مشخصاتو کې نه ده د ښکلا کليمه مې څوځله په زړه کې تکرار کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ورو ورو يوې غرني ښکلا ته لاړم تر مړاو ښو لاندې تورې غتې او د حيا ډکې سترګې او غښتلي اندامونه او ترمينځ مود تربګنی او دښمني تور ديوالونه !

وروسته له دې ورځ په ورځ بدلېدم فکر مې کاوه چې يو څوک مې له شا رانيسي او شپه په شپه راته نږدې کېږي په خوب کې به هم يوې نااشنا سوالګرې منډې راپسې وهلې خو نظر او سترګې يې سوالګر ې نه وې درناوی ،حيا ،او کليوال غرور په کې له ورايه څرګند وو خو ددې سره سره مې د خيال او فکر په بديا کې خپله ورکه ښکلا لټوله ملاشمس الدين هم هر ځل د فطرت او تقدير پرېکړو ته د سر ټيټی مشوره راکوله او ويل يې چې تقدير ته ځنان سپارل د هوښيارانو کار دی د جومات دننه د هغه دا ډول خبرو دومره اثر درلود چې پرېکړه به مې وکړه چې په ټول عمر کې د کلي او ښکلا نوم بيا وانه خلم ټول وخت به پوهنتون استادانو او درسونو ته ورکوم نور به د خپلې کورنی سره ددې ډول چلند په ځای زما هر څه په مينه او خندا سره ترسره کېږي له دې نه دوه ورځې نورې تېرې شوې خو هغه سوالګره نجلی او ښځه مې بيا د ابراهيم بن ادهم د جومات په مخ کې ونه ليده ددې وېره راسره وه چې د حميد بابا شعرونه يې راخخه وړي نه وي اوبې وعدې شوه خوملاشمس الدين ويل

-ضرور به يې راوړي

دريمه ورځ چې مازيګر د جماعت د کړکی ترڅنګه ناست وم او دمازيګر د زيړو رنځورو وړانګو ننداره مې کوله هماغه نجلی مې ناڅاپي مخکې راپيدا شوه

کاکا کتاب ..........

په لاس کې يې د حميد مومند دېوان وو ترې و مې پوښتل دادې چاته وړی وه خو نجلی رډ رډ راته کتل او په منډه له جوماته ووته د کتاب پاڼې مې واړولې له پاڼو يې داسې مالومېده چې که پوره نه وي نو نيمايي خويې مطالعه شوی دی ځکه چې ځينې پاڼې يې په ګوتو تورې کړې وې او د پنسل ځينې نښې په کې وې دديوان په مينځ کې يوه سپينه پاڼه ايښې وه راوچته مې کړه او د پنسل ليکنواو کرښو ته ځير شوم

ښاغليه !ژوند هغه ګرداب دی چې تل د غرغړو په حال کې وي په دغه ګرداب کې يوازې هغه څوک کاميابېږي چې د لامبو چل ورځي په دغه ګرداب کې هغه څوک ډېر ژر ډوبيږي چې لامبو يې نه وي زده او د ژوند په روان سيند کې د پرمختګ پوري وتو او څپو ماتو لو توان ونه لري خدای(ج) دې له داسې ګردابونو په امان لره

يو ه بې کوره مرغی

احسان دې بياهم په لېمو

سترګې مې وموښلې شاوخوا مې وکتل وړاندې په کونج کې دوه سپين ږيري په ذکر بوخت وو او خپلې تسبې يې اړولې د جومات له مخامخ کړکی ژېړې وړانګې د جومات غولي ته رالوېدلې وې بهر د جومات په برنډه کې خلکو په کوزو اودسونه کول او دمازديګر د جمعې لپاره يې تياری نيوه حواس

(c) ketabton.com: The Digital Library

مي ګډ وډ وو مازديګر له لمانځه وروسته د نورو خلاف وختي کور ته روان شوم د هغې د ليک هره جمله مې په ذهن کې ګرځېدله.

په دغه ګرداب کې يوازې هغه څوک کامیابېږي چې د لامبو چل يې زده وي درېيمه او څلورمه ورځ هم راباندې همداسې بې خونده تېره شوه له ملا شمش الدين سره مې هم خبرې کمې کړې وې خپل د پوهنتون درسونه مې لوستل او په خالي وختونو کې مې د پخوا نو شاعرانو شعرونه مطالعه کول يونيم شعر به مې هم که ليکلو نو له کليوالو انځورونو ،غرونو ،دښتو ،سيند غاړو او دکروندو په يادونو به مالامال وو چې د ښار ملګرو به مې دغه انځورونه نه خوښول او زړونو به يې چندان او به پرې نه څښلې يوازې زه وم چې په يوازېتوب کې به مې خپل اودنوروکلاسيکو شاعرانو شعرونه لوستل

په پوهنتون کې وم درېيم ساعت نوی پيل شوی وو چې زنګ راغی موبايل مې را بهر کړ دکور شمېره وه په نرمه لهجه يې راته وويل

سلطانه يوځل کورته راشه لالا دې يوڅه ناروغه دی

زړه مې په درزا پيل وکړ په سترګو مې تياره راغله خومخکې له دې چې څه ووايم تلفون يې راباندې پرې کړ اجازه مې واخيسته يوه ټکسي مې دربس کړه او د کورپه خو روان شوم ټول واټونه ګڼې ګونې نيولي وو خو هڅه مې کوله چې ځان ژر ورسوم وېرې هم اخيستی وم چې هسې نه کومه خبره نه وي.

کورته ورسېدم پلوشه په انګړ کې تر ونې لاندې ناسته وه او په څېره يې د خفګان کرښې خورې وې زما په ليدو راغله لاسونه يې په غاړه کې راوچول او په ژړا شوه

سلطانه په لالابيا د زړه حمله راغله روغتون ته يې وړی د کتابونو بيک مې کېښود په منډه له کوره ووتم يوه ټکسي مې ونيوله او د څلوسوه بيستر يزروغتون په لور روان شوم

څلورسوه بستريزروغتون ته مې ځان ورسولو بهرګڼه ګونه وه هرڅوک دخپلو ناروغانو په لټه کې سرګردانه وو خوماليدل چې ځينو نمک حراموبه په همدې حالت کې هم نجونو او يا هم په نرسانو پسې سترګې وړلې هغه زموږ د مشرانو خبروه يوله لوري مړکېده بل يې ترسرلاندې ډوډی کتله په پوښتنه پوښتنه مې دپلارکوټه پيدا کړه په منډه ورغلم خودپلارحالت مې ښه وومورمې سرته ورته ناسته وه زماپه ليدويې خپله ځای ماته پرېښودد پلارحالت مې ښه وو په شونډويې همېشنۍ موسکاوغوړېده اوماته هغه وختونه راپه يادشول چې په ماشومتوب کې به مې کومه شوخي وکړه اويابه مې له پلوشې سره جنجال راغی نونوپلاربه مې راته دغوصې په ځای داډول موسکاکوله ، په تندي مې يې لاس ورکېښود خومورمې خبرې پيل کړې

سلطانه !

اوس ښه دی شکردی چې پخيرتېره شوه اودومره زوروره حمله نه وه لږوروسته له خيره کورته ځوستاراتګ ته هم حاجت نه ووخوښه شوه چې راغلې ، پلارمې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګوکې دهغې خبرې تائیدکړې په بیړه پاڅېدم چې کوم یخ څیزورته دڅښلولپاره راوړم ، له کوټې نه بهر زماد پلاردفتریوهمکاراوډرېورهم په انتظارخونه کې ناست ووپه دهلېزکې مخامخ لاړم ګورم چې ناڅاپه مې یوه وړه نجلۍ مخې ته راغله په سترګوراته اشنا ولګېده په لاس کې یې دجوسویوقوتی وواوسترګې له یوډول اشنازړه راښکونتیاڅخه ډکې وې ، یوه شېبه ورته تم شوم ماشومه نجلۍ په ډېره منډه لاړه اومخامخ کوټې ته چې وریې خلاص وونتوته یوډول تلوسې اخیستی وم ورو ، ورو وریسې ورغلم وړاندې یوه ځوانه ښځه دوره خواته نږدې په بسترکې پرته وه اوماشومه نجلۍ یې څنګ ته نږدې په کټ کې کښناستـه وړاندې څونورې ناروغانې هم په بستر ونوپرتې وې چې رنګونه یې دمړوپه څېرزېړتښبي ووپه ټوله کوټه بې خونده چوپتیا واکمنه وه ماشومه نجلۍ یې په غوږکې وپسېده ناروغې په کټ کې ځان وخوځولواودوره په لوریې راوکتل زړه مې ټکان وکړترمړاووښولاندې غټې اوله حیاډکې تورې سترګې اودغرنۍ ښکلاغښتلې اندامونه مې سترګوته ودرېدل چې ترمخ یې لاهم دتربګنۍ اودښمنۍ توردېوالونه ولاړوو.

هماغه سوالګره اوماشوم چې دابراهیم بن ادهم دجومات مخې ته به ولاړه وه یوڅوقدمه وړاند ې ورغلم اوپه کوټوکې دناروغانوبسترونوته ځیرشوم وره ته په نږدې بسترهماغه ښځې سراېښی ووچې مابه هروخت دابراهیم بن ادهم دجومات مخ کې په سوال لیده خواوس راته څرګنده شوه چې سخته ناروغه ده په غلچکي ډول مې سترګې دهغې په مخ ولګېدې چې دناروغۍ په سبب یې زېړرنګ غوره کړی ووهغه په اړخ پرته وه اودخپلې ماشومې په وېښتوکې یې لاسونه وهل ببرته په منډه لاړم دروغتون له نږدې کانتین څخه مې تازه مېوې اودمېوې اوبه راسره واخیستې یوځل بیاله ذهني کشمکش سره ګېروم دروغتون هماغه دهلېزته چې ورسېدم بیامې وړاند ې په هغې سترګې ولګېدې چې هېڅوک هم ورسره نه ووبې اختیاره مخامخ ورغلم دمېوې یوه پلاستیکي کڅوړه مې دبسترمخې ته په اېښې مېزکېښوده ښځې له کټ نه سرراپورته کړاوماته یې وکتل په ټیټ غږ چې حیراني هم په کې وېیې وویل

داڅه دي؟

په جرئت مې ځواب ورکړ

دامېوه ده تاسې ورته ضرورت لرى....دومره څه نه دي خوپه ډېرڅه یې قبول کړئ.

ترژبه لاندې یې وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

مننه خو تا سې مې و نه پېژندلی !

خبره يې په ستوني کې وچه شوه خوزريې دوام ورکړ

........هوريښتيا تا يوځل له دې نه وړاندې هم په مالوی احسان کړی وو زه احسان فراموشه نه يم بې له دې چې څه حيرانتياوښايم هغه وخت مې په خيال کې وګرځېده چې يوې ماشومې نجلی ليک راکړاودحميدمومنددديوان غوښتنه په کې شوې وه.

بېرته شاته لاړم په وره کې مې بيا پرې غږکړ.

که ماته دمرستې څه اړتياوي نوحاضريم....هوريښتيا له ډاکترانو سره خوبه په دري کې کوم مشکل نه لرې ، بې له ځنډه يې ځواب راکړ

مننه زه په دوا ړوملي ژبو پوهېږ م په پېښور کې زموږ ځوګاونډيان کابليان وو.

دشرم تراحساس لاندې ورڅخه روان شوم په وړاندې بسترونوکې نورونارو‌غانوهم زموږددغه خبروپه جريان کې موږته غوږنيولی ووخولکه چې په پښتونه پوهېدل ځکه يې چندان لېوالتيانه حس کېده .

مافکرکاوه چې هغه کومه ساده کليواله ده خوالفاظويې ثرګندوله چې پوره لوستې ده اوهغه دچاخبره يوځوک ده دپلارخواته مې ورغلم خوترهرڅه زيات ددغه مېرمنې پېژندلوته لېواله وم ((ترمړاووښولاندې تورې غټې حياناکې سترګې يې ډېرې ځورونکې اواشنامعلومېدې ډاکترانوويل چې پلارمې دفشارسخته ناروغي هم لري اوله دې امله يې په زړه دحملې چانس زيات د ی ، په همدې خاطردوه ورځې پرلپسې روغتونه ته تلم راتلم اودخپل پلارخدمت مې کاوه خوپه هرځل راتګ سره به مې يوځل خامخاددغه نااشنامېرمنې کوټې ته په څه بهانه سروښکاره کاوه هغه هم که نوردخپل زړه نه وه خومجبوريت پوره راسره اشناکړې وه ناروغي يې معمولي وه نرسې ويل چې فشاريې هم ثابت نه دی اوګنې رواني ستونزې لري په خوب کې دشپې راپاڅي اودلېونۍ په څېرنارې وهي کله جګړې اوبمبارۍ يادوي ، کله ژاړي کله اباباکله يوڅه کله بل څه وايي بس دغه اپلتې ويل دهغه لويه ستونزه ده حتی په وينښه هم ژاړي اوسلګۍ وهي.يوکوچی ډوله بوډايي وخت ناوخت احوال اخلي اوکوم بل سرپرست هم نه لري چې تراوسه دې دهغه پوښتنې ته راغلی وي

له دغې نرسې سره چې نوم يې عاليه ووزمااړيکې ورو ، وروخوږې شوې هغه يوه ډېره خوش باوره مېرمن وه ډېروخت به يې په دې تېراوه چې دخپلوملګرودمعاشونوجايدادونواوژوندغندنه اوستاينه وکړي دځان په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاینه کې یې دومره افراط کاوه چې کله به یې ځان له پوهوډاکترانو هم پوه ګاڼه ثوځله مې ورته وویل که ددغه مېرمنې په اړه راته یوڅه معلومات راغونډکړي اودهغې له ژوندنه مې خبرکړي خوهغې ویل چې هغه دچاسره په شخصي ژوندخبرې نه کو ي کله چې داخبرې ورسره یادې کړم دیوډول ناراحتی احساس کوي اوشونډې یې مرۍ مرۍ کېږي یوه ورځ یې راته وویل دومره معلومات یې ترلاسه کړي چې ناروغه هلمندی مهاجره ده چې له هلمندنه دلته راکډه شوې اوس یې دکاکاسره په کابل کې چیرته شپې تېروي.

یوه ورځ مازدیګر مهال له پوهنتونه ناوخته راغلم اودکورپه ځای روغتون ته لاړم دپلارپه کوټه کې مې ګڼه ګوڼه وه اوګن همکاران اودوستان یې پوښتنې ته راغلي وو ماهم مناسبه ونه ګڼله چې ورشم اوله هریوه سره ځان ځان ته ستړي مه شي وکړم مخامخ دهمغې ښځې خواته ورغلم سرته یې ودرېدم هغه په بستره کې ناسته وه اولیکنه یې کوله ګڼې پاڼې یې تورې کړې وې خوزماپه لیدویې په رنګ کې بدلون راغی پاڼې یې تربالښت لاندې کړې اوماته یې ښه راغلاست وویلو په ورخطااوهیاجاني لهجه یې زیاته کړه

ته ډېرمهربانه ځوان یې....

خومایې خبره ورپرې کړه

ناروغي دې څنګه ده؟

ترژبه لاندې یې ځواب راکړ

ښه یم ستاپلارڅنګه دی ؟

بدن مې تودشو حیران شوم چې زمادپلارنه څه خبره ده

ورته و مې ویل زما له پلاره څه خبره یې ؟

هغې پیکه خنداوکړه

دافکرمه کوه داډېره دوه مخې نړۍ ده دایوازې ته نه یې چې له عالیې نه زماپه اړه پوښتنې کوې زه هم دچاپه پېژندلوکې دومره غافله نه یم

زه چوف ناست وم هغې زیاته کړه

وایه ولې چوف شوې دچاپه اړه معلومات حاصلو ل بده خبره ده

ورته و مې ویل

نوم دڅه د ی؟

نوم څه کوې ؟

غواړم ودې پېژنم اوستادژوند په اړه معلومات ترلاسه کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دماشوم په وېښتو کې يې لاس راتېرکړاوزياته يې کړه

دښکلاپېژندل چاته څه ګټه لري خوخيرددی اوس له دې ځايه لاړشه چې اکا مې راځي وعده کوم چې له هرڅه به خبرشې له کوټې يې روان شوم اودخپل پلارخواته ورغلم

***

دپلارمې په روغتون کې ټولې څلوررځې پوره شولې اوډاکترراسره وعده کړې وه چې پنځمه ورځ به ښه شي اوکورته به يې رخصت کړوپه دې څلوررځوکې به هره ورځ دپوهنتون نه روغتون ته راتلم پلوشه اومورمې کورته واستو ل زه اوکوچنۍ خورمې له هغه سره پاتې شوو په دې دومره موده کې هره شېبه دهغه نااشنامېرمنې سيوری راباندې خوروو، کله به مې فکرکړچې دهغې ترمړاووېښولاندې له حياډکې اوښکلې سترګې هره شېبه راپسې دي اوماځان ته راکاږي خوبيابه مې فکروکړچې ممکن په دغه لېوالتيابه مې يوازې ددوی نرسه عاليه پوه وي ، پلارته مې دهغې دليدوپه وخت بهانه کوله چې بهرپه چمن کې مطالعه کوم پنځمه ورځ دپنجشنبې ورځ وه له پوهنتونه راغلم مورمې هم انتظاروه اوپلارمې روغ رمټ وواودپخواپه څېرېې مجلس کاوه

په خندايې راباندې غږکړ

والکه !دروغتون په کومه نرسه خوبه دې زړه نه وي بايلی ؟

چې هره شېبه رانه ورکېږي

ماوخندل خوپه زړه کې مې دشک يوه څپه تېره شوه بهرته ووتم اودهغې دبسترخواته ورغلم کله چې وروړسېد م په خالي بسترمې سترګې ولګېدې ا و زړه مې ټکان وکړزړه نازړه کوټې ته ورننوتم ديوې بلې ناروغې له پايوازې نه مې وپوښتل چې ددې ځای ناروغه چېرته ده ؟

هغې لومړۍ حيران حيران راته وکتل بيايې ځواب راکړهغه نورښه شوه نن سهاريې په اتوبجورخصت کړه ديوه سپين ږيري سره لاړه

په مات زړه راووتم لاڅوقدمه نه وم تللی چې له شانه چاراپسې غږکړ

سلطانه !

ورومې کتل ګورم چې عاليه راروانه ده اودکاغذونويوبنډل يې په لاس کې دی

سلام لکه چې دناروغ پوښتنې ته راغلی وې ؟داسې نه ده ؟

زه لاچوپ وم چې هغې خپلې خبرې وغځولې

خومتسفانه چې هغې روح دربښلو.

رنګ مې تغيرورکړاوسرراباندې وګرځېد

ريښتيا؟

عاليې زمادرنګ په اوښتوخندل

(c) ketabton.com: The Digital Library

واه ، وا ه دارنګ ته دې ګوره چې مړنه شي دروغ مې ويل هغه سهاروختي نوررخصت شوه په ناڅاپې ډول به يې په باربارستا پوښتنه راځخه کوله خوماورته ويل چې زه نه پوهېږمه هوريښتيا په اخرکې يې ستا په نامه يوامانت راکړی هغه هم ديوڅوپاڼو دغه بنډل چې ماته دکوم پخواني کتاب نسخه ښکارېږي څه چې په کې دي زه هم نه پرې پوهېږم خوهغې ماته ويل چې په دې کې هرڅه ليکلي دي ده ته يې ورکړه ويل يې چې د سترګوډېرې پوښتنې به يې په کې ځواب شي ،
زړه مې يوڅه قرارشو له عاليې مې مننه وکړه اوورځخه روا ن شوم بې له دې چې ويې ګورم پاڼې مې په بکس کېښودې اودوه ساعته وروسته له خپل پلارسره ټو ل دهغه ددفترپه موټرکې دکورپه خوراوان شوو ،اوټول خوشحاله ووخوزمادخيال مرغان بياډېرلرې تللي وو
***
سباورځ جمعه وه پوهنتون ته دتګ بيړه هم راسره نه وه خوددې سره سره مې ترسهارددې موقع پيدانه کړه چې په پاڼوکې راغلې کرښې وګورم کله چې له کارونووزګارېدم نودورځې لس بجې به وې دکوټې ورمې په ځان پسې بندکړپاڼې مې پرانستلې اوپه لوستلومې يې پيل وکړپاڼې مختلفې وې په يوه داسې ليک ليکل شوې وې چې ډېرزاين يې پېښتوو و و، په بيړه ليکل شو ې وې خوپوره واضح وې اوليک يې ښکلی ښکارېده ، دوه پاڼې خالي وې ددريمې پاڼې په مخ ديوې ځوانې نجلۍ ښکلی تصويرلګېدلی وودتصويرپه ليدومې زړه ټکان وخوړځکه ترې لاندې په غټوکرښودښکلاکليمه ليکل شوې وه ،کليواله ښکلا، ترمړاووبښولاندې تورې اوغټې حياناکې سترګې ، غښتلي اندامونه اوترمينځ دتربګنۍ اودښمنۍ ولاړتوردبوالونه په تصويرکې يوه پوهنتوني نجلۍ په پارک کې په څوکۍ ناسته ده اوپه خفګان سره دکتاب پاڼې اړوي ، لاندې ورته ليکل شوي وو
په پخوانوسترګومې ګوره
که مې رنګ زېړوي دابه ستاله غمه وينه

دپاڼوليکنه ، تصوير، دنجلۍ نوم ، ټپه ټول راته حيرانوونکي وو ،دپاڼوپه لوستلومې پيل وکړنږدې يوه بجه به وه چې ټولې پاڼې مې يې پرلپسې ولوستلې دوروستيوپاڼوپه لوستلونورزمادسترګوپه کاسوکې اوښکې دځايېدونه وې اوږدوغځېدم اوله ځان سره مې وژړل ډېره موده وروسته مې يوځل بيااوښکوګرېوان لوندکړ، ماتردې دمه په خپل ژوندکې دوه ځله په خپل ژوندکې اوښکې تويې کړې وه يوهغه مهال چې له کلي ښارته راغلم ، اوزړه نازړه مې په ښارکې ژوندپيل کړ، په دغه راتګ کې مې دومره اوښکې تويې کړې چې ، په وچولويې نورپه دستما ل کې وچ ځای نه وو ،اوبله داچې دشپې وې هغه مهال مايوازې خپل کلی کورنه بلکې خپله غرنۍ ښکلاچې ددښمنۍ اوتربګنۍ توردبوالونه يې په وړاندې ولاړووپاتې کېده اوبيانن ددغه داستان په لوستلو زماداوښکوهغه ځای ته ورغلې چينې يوځل دورځې په رڼاکې راوخوټېدې .په حالت کې مې پوره بدلون راغلی ووخوچاته مې حال نه ويلو اونه مې ددې جرئت ووچې حال چاته ووايم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دازموینوورځې راغلې په ورځ کې به یوځل خامخادابراهیم بن ادهم ، جومات ته تلم درس به مې ویلو اوپه خالي وخت کې به مې له ملاشمس الدین سره پوره مجلسونه کول ،اویابه وړاندې غونډیوته تلم اوپه شاوخواسیموکې به مې ښکلالتوله هیله مې داوه چې که یې یوځل وګورم داهغه ځایونه ووچې هغه مې لومړی ځل دیوې غیرمعمولي سوالګرې په جامه کې لیدلې وه خواوس یې درک نه وودلته په سلګونوکېږدۍ دهغو کډوالووې چې دبهرنیوځواکونودبې رحمانه بمباریوپه سبب له هلمندنه دلته راکده شوي ووښکلاهم دمجبوریت بې رحمانه سیلیوله هلمندنه دکابل دغه جونګړوته راکډه کړې وه په دغه خیموکې هغه کسانوژوندکاوه چې په هلمندکې خانان ووخواوس یې دلته دسوالګروپه څېرژوندکاوه اوهره ورځ دشپې په تیارواودورځې په ګرمیوکې درپه درګرځېدل پوره یوه میاشت مې په همدې ډول تېره کړه اودهلمندۍ ښکلاپه لټه ګرځېدم خوله اوښکومایوسۍ اوخفګان پرته هېڅ په لاس نه راتلل .ملاشمس الدین هم په دې مسئله کې چندان لېوالتیانه ښودله .اوویل به یې چې د دغه خېمودهرې نجلۍ داستان ښکلاته ورته دی خومورېڅه کولی شوی؟ زه له پخوانه دبشر په هغوحقوقوچې په راډیوګانوکې به مشرانو ورباندې بحثونه کوي چندان باوري نه وم اونه مې دبهرنیومرستوته زړه ښه کاوه ماته یوازې دعاګانې راپاتې وې.
یوه میاشت وروسته چې دسمسټرامتحانونه پای ته ورسېدل نورنورخصتي شوه پلارته مې وویل چې لومړی خوبه ټول رخصتي په کلي کې تېروخوکه ټوله نه وي نوماته اجازه راکړه چې لاړشم خوپلارمې دمعمول خلاف دومره راته غوصه شو چې دلومړي ځل لپاره یې په رنګ کې بدلون راغی
احمقه !ځان درباندې تاوان دی پخواخومودښمن یوازې بازمحمد وو(زماتره )ووخواوس زمورډښمنان دشمېره وتي دي دحکومت مخالفین اوطالبان کلي ته په لاروهرهغه سړی له موټره کوزوي چې ږیره یې نه وي اویاپه حکومت کې دنده ولري په تېروڅوکلونوکې یې څوکسان دسړک په غاړه ویشتي دي ،انګرېزانواوامریکایانودطالبانوغوصه راپارولې اوهغه اوس په دې کسانوسړوي ، بازمحمد هسې هم زمادنه راتلولپاره زمورږ په ضدا غزي کرلي ته اوس ځوان یې په دې خبروبایدپوه شې که ارامي شوه بیابه له خیره ټول ځو بیادې هم که په کورکې زړه تنګېږي ، نوزه به په خپل دفترکې یوه دنده درته پیداکړم ،هلته به مقررشې اوپام به دې په بله وي هسې هم په کلي کې سړی بې سواده کېږي.
دپلارخبرومې پوره نهیلی کړم
که څه هم دومره وېره نه وه خوپلارمې له پخوانه یوڅه ډارن وواولانجې یې نه خوښېدې بلخوازماکاکابازمحمدهم دطالبانوداعتمادوړکس وواوزمورپه ضدیې هرڅه کولی شول مورمې هم له تګ منعه کړم زاری یې راته وکړې چې دموراوپلارمشرزوی یې تګ ته هېڅ حاجت نه شته.
په دې دریوکلونوکې که څه هم له کلي لرې ووخوزمورږ دهقان علم ګل کاکابه په دوودریوکلونوکې له کلي یوځل ښارته راته اوپلارته به مې یوڅونغدې پیسې ورکولې مابه هم چې علم ګل کاکایوازې ولیده

(c) ketabton.com: The Digital Library

نود کلي په اړه به مې ورڅخه ګڼې پوښتنې کولې کله به مې ترې وپوښتل چې کاکا خو به مې له چا سره خپلوي نه وي کړې نو وبه يې خندل ؟
او زياته به يې کړه
باز کاکا دې وايي چې زما د لور سيال لا تر اوسه په جهان کې نه دی پيدا شوی
زه په دې خوشحالېدم چې ښکلا لا تر اوسه پېغله ناسته ده پخوا به مې فکر کاوه چې هغه به هره شپه او هره ورځ زما لار څاري خپل پلار ته به کنځلې کوي چې ولې يې زموږ ترمينځ د تربګنۍ او دښمنۍ تورد بوالونه درولي دي خو د هلمندۍ ښکلا د داستان په لوستلو مې د کليوالې ښکلا تصوير په ذهن کې يو څه پيکه شو او فکر مې کاوه چې د هغې ښکلا تصوير د يوې بلې ښکلا په وجود کې ګورم
***

درخصتۍ په لومړۍ ورځ له خپلې مور او پلو شې سره ښار ته لاړم سودا موو کړه په ښارکې څو ځايه بهرنيو عسکرو لارې بندې کړې وې او بې ځايه تلاشۍ يې کولې په ښار کې يو څه وګرځېدو خو د مور مې هم زما په څېر ښار نه خوښېده بېرته کور ته راستانه شوو د ډوډۍ موتيا ره کړه دولس بجې به وې چې د مېلمنو کوټې ته لاړم له الماری نه مې د ښکلا راسپارلې پاڼې رواخيستې ، خوزړه مې تنګ وو په ذهن مې دکلي بوی او داوړي له کليوالو ورمو ډکه هوا لګېده زه حيرا ن په دې وم چې ولې مې يوه اونۍ وړاندې په زړه کې دغه وېره نه وه زما په ذهني طرحه کې ما د رخصتۍ ډېره برخه په کلي کې تېرو له خو اوس دا هر څه دا وبو په سر ليکنې ته ورته وو مجبور شوم زړه مې په ښار کې ولګولو هڅه مې داوه چې ځان ته يوه داسې بوختيا پيدا کړم چې کلی رانه هېر شي .د همدې لپاره تر ټولو مهم د ادبياتو مطالعه وه پيل مې يو ځل بيا د ښکلا له پاڼو کړ پاس بالاخانې ته وختم او پاڼې مې بېرته له سره پيل کړې چې هره شپه په کې پوره زړه را ښکونتيا وه او تلوسه وه
***

زمانو م ښکلا د ی په ۱۳۸۷ کال کې په خپل ټاټوبي د هلمند ولايت په مرکز لشکرګاه کې اوسېدو اوزه د پنځلسو کلونو وم زموږ شپږ کسيزه کورنۍ د هلمند له ډېرو نېکمرغه کورنيو څخه وه په دې چې څوک په کې بې سواده نه وو او زما د پلار له برکته په کې هر چا زده کړه کولی شوی د دې ترڅنګ يې زموږ ګاونډيوا ونږدې دوستانو ته هم د سواد نعمت رسېدلی وو زموږ د کورنۍ نورغړي زما لس کلن ورور ميوند دوه وړې خورګانې چې مشره يې يلدا چې اته کلنه وه او کشره يې رڼا نومېده چې عمر يې شپږ کاله وو مور او پلار مې هم د عمر په لحاظ غښتلي او ځوانان وو پلار مې هغه وخت د طالبانو په حکومت کې د لښکرګاه د محکمې مشر قاضي وو د دې ترڅنګ يې تجارتي کارونه هم روان وو خو د د ې سره سره زموږ د تعليم پوره غم ورسره و و په دې چې هغه خپله يو لوستی انسان و و او لوړې زده کړې يې کړې وې او يوا ېما انداره قاضي وو هغه په پېښور پوهنتون کې د شرعياتو پوهنځی لوستی وو او د تنظيمونو په مهال يې په ګڼو کنفرانسونو کې برخه اخيسې وه لوړې دندې يې هم اجرا کړې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم هغه مها ل نجونو ته ددې اجازه نه وه چې زده کړې وکړي زمامورهم دولسم ټولګی لوستی وواوبیایې زمادپلار سره کوژدن شوی وو زمادموراو پلاراوزموږ دکورني ښوونکي سیدرسول کاکاپه مرسته زموږ دکورنۍ شاوخوانجونو ترلسم ټولګي پورې زده کړې وې اوددودی  دپرلپسې هڅوپه سبب موا ستعدادله هغوهم لوړووچې رسمي ښوونځي یې لوستي وو

پلارجان مې شپه اوورځ هڅه کوله چې موږدمنظمې زده کړې له مخې وروزي په کورکې مودرې ټولګي وو چې داتم نهم اولسم ټولګي کتابونه راته په کې سیدرسول کاکا اوزماپلارپه ګډه تدریسول دغه کورنۍ ښوونځی چې په پوهنې ریاست کې هم رسمي ووله لسم ټولګي نه درجه په درجه تردې دمه رارسېدلي وو زه دلسم ټولګي په لسونجونوکې اول نمره وم په دې نه چې ښوونکی موزماپلارووبلکې خپل زحمتونه مې ووهڅه مې داوه چې تکړه لیکواله اویاهم ډاکتره شم ماچې کله سواده زده کړنوبیامې دپلاردکتابتون نږدې ټول کتابونه مطالعه کړل اوپلارمې هرډول کتابونه راته راوړل

موږ به چې له درسه وزګارشوبیابه هرچاپه خپل کورکې خپلوماشومانوته هم زده کړه ورکوله چې ددې ټولونوښتګربیاهم زماپلارووا وڅوک چې دتعلیم په قدرپوهېدل نودعاګانې یې ضروورته کولې تر۱۳۸۸م کال پورې موږ دیوولسم ټولګي کتابونه هم خلاص کړل خودتقدیرفیصله بل ډول وه یوداچې زموږښوونکی سیدرسول کاکا دعمرپه لحاظ کمزوری شو اودورپېښې ناروغۍ په سبب یې یوه ورځ ساه ورکړه بل داسې اوازې وې چې امریکاپه افغانستان حمله کوي دطالبانوحکومت رنګوي په یوازې ځان مې پلارهم نه شو کولی چې دخپلوکارونوترڅنګ موږته درس راکړي ددې ترڅنګ به یې اندېښنې په دې زیاتې وې چې امریکایان راځي اوبیانوی انقلاب پیلېږي هغه که څه هم دطالبانودحکومت له ګنوکړنوسره له دنجونوپه تعلیم بندیزاوداسامه نه سپارل اوکوکنارچې دی یې په کلکه مخالف وو خودامریکایانواویانوروبهرنیوسرتېروله راتلویې هم کرکه کېده ویل یې چې هغوی خپل اهداف لري اوکله هم دافغانانودارامۍ خیال نه لري چې له امله به یې یوځل بیاافغانستان داورپه لمبوکې وسوزي هغه له خپلوځینوملګرو سره هم چې دحکومت لوړپوړي غړي ووداندېښنې شریکې کړې وې چې له امله یې ورته ګنې ستونزې پیداشوې اودهغه په زیان تمامې شوې.

یوه ورځ خفه غوندې کورته راغی مورمې چې ترې دخفګان لامل وپوښته نوسوړځواب یې ورکړ له دندې یې برطرف کړی یم دډارن اوادامریکادپلوي تورونه یې راباند ې لګولي په همدې ورځوشپوکې داسې ځینې کسان هم په پټه ترورشول چې داسامه مخالفت به یې کاوه اوطالبانوته به یې دنرمۍ مشورې ورکولې زماپلارهم داسې یوکس ووخوښه داوه چې یوازې له دندې ګوښه شو چې لامل یې ټولې همغه خبرې وې چې له خپلوملګروسره به یې په مجلسونوکې کولې په ثوروځوکې هلمندته دb52الوتکولومړۍ ډالۍ روارسېدې ورو   ورودرنې بمبارۍ پیل شوې دپلارمې له پخوانه هم ډېرچورت خراب و و یوه میاشت وروسته مې یې مورته وویل چې له هلمندنه وځي مورمې یې هم مخالفت ونه کړځمکه مو دهکان ته پرېښوده یوه ورځ سهاروختي کابل او له هغه ځایه دوه ورځې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته مخ په پېښورروان شوو په راډيوکې مواورېدل چې دامريکا حکومت هره ورځ اروپايي هېوادونه دځان ملګري کوي اودافغانستان له ګاونډيوهوايي اډې غواړي اوپه افغانستان دځمکني يرغل لارې ګوري اوورته له اوسه پوره تياري نيسي په جلال ابادکې هم طالبان هم ورخطاوو دهرچاتالاشي يې کوله دلته وېره داوه چې پاکستان له امريکاسره دهرډول مرستې ژمنه کړې وه هسې نه امريکادتورخم له لارې ځمکنی يرغل وکړي اوياهم امريکان ورنه راداخل نه شي په هرصورت موږ پېښورته په ډېرګړاوواوخفګان سره ورسېدو په حيات ابادکې مې پلارپوره شناخت درلودخوزمالومړی ځل ووچې له هېواده بهروتلم دهغه ديوه دوست په کورکې مودرې ځلورشپې وکړې اوبيايې يوکرايي کورراته پيداکړچې په هغه کې مواواړول

له نېکمرغه چې له موږسره دپيسوڅه کمی نه وو په لښکرګاه کې دځمکې اوڅودکانونو نه چې په کرايه يې ورکړي و و پلارته مې پوره پيسې لاسته ورتلې يوه پوره يوه مياشت بې کاره وو خووروسته ورته خپل کوم ملګري دملګروملتونو دمهاجروپه اداره UNHCRکې دنده پيداکړه چې عايديې بدنه وو زه ميونداووړې خورګانې مې دمهاجروپه لېسه کې شامل شوو خوداکارهم په ډېروواسطوو شو وروسته ورو ورودامريکايانو دنظامي يرغل اوبمباريوپه سبب ځينې نورې کورنۍ هم دلته راکډه شوې نورددې په ځای چې دهېوادپه حالاتوفکروکړم په رحمان باباليسه کې مې خپلو زده کړوته په دوولسم ټولګي کې دوام ورکړهڅه مې داوه چې خپله وړتياوښايم په لومړيوکې زماځانګړې هلمندۍ لهجه دښوونکو زده کوونکو لپاره ډېره په زړه پورې وه خووروسته راسره عادت شول بايدووايم چې دومره هم نه پوهېدم لکه دلته چې مهاجرې نجونې اوهلکان پوهېدل خودپلارپراخه نظراوکورسونونيولو زمادا ستونزه هم حل کړه په ځلورنيم مياشتينيوازموينوکې دريم نومره راغلم چې داپه ځلوېښت کسيزه ټولګي کې ښه نومره وه انګريزي کورسونه مې هم ونيول اوشپه ورځ مې په درسونوکې کوښښونه کول يوکال وروسته له دوولسم ټولګي څخه فارغه شوم پلارجان مې راته دکانکورپه ازموينه کې داخله واخيسته اودپېښورپوهنتون دادبياتوپوهنځي پښتوڅانګه مې انتخاب کړه سوالونه ډېرسخت نه وو بله خبره داوه چې زموږ دټولګي نه يوازې شپږ نجونو غوښتل چې لوړې زده کړې وکړي ځينوويل چې کډه يې وطن ته ځي ځينوويل چې دپوهنتون اجازه ورته نشته خوماته مې پلار لاپه دوولسم ټولګي کې ويل دپوهنتو ن تياري نيسه ته بايدلويه ښځه شې اوښه شخصيت ولرې

دهغه اعتماداو تشويق زمادبرې لومړی رازووپوهنتون څومياشتې وروسته پيل شو دلته نوپه لومړي ټولګي کې هلکان اونجونې ګډکښناستل دبې ځايه خبروپه ځای هرڅوک خپلودرسونوته متوجه وو دپوهتنو ن لومړی اووروستي سمسټرونه ډېر سخت وي لومړی په دې چې يوڅوک له نوي تحصيلي سيستم سره اشناکېږي سمه اشنايي ورسره نه لري اووروستی په دې چې دفراغت اومونو ګراف ليکلو غم وي اوله ملګرو بېلتون هم دردونکي وي په لومړي ټولګي کې ټول شپېته کسه وو چې دنجونو اوهلکانو شمېرنږدې سره برابروو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرى په کې څپله پېښوريان وو اونوربياجلال اباداوکابل نه وو خودلته ټول دکابليانو په نوم يادېدل وروسته چې يو څه بلده شوم دوه نجونې چې غوټۍ اوهيله نومېدې اويوبل هلک دلښکرګاه وو چې سلطان نومېده ورسره ومې پېژندل هغوى ډېروخت دلته په مهاجرت کې تېرکړى وو چې زما په څېرله لهجې نه زرنه پېژندل کېدل اوچافکرنه کاوه چې دهلمنداويا کندهاربه وي په لومړيوکې مې ملګري له هيلې اوغوټۍ سره وه اودسلطان سره مې له سلام پرته دوطندارۍ په حساب ددرسونو اوهلمند په اړه ځينې خبرې کولې هغه هم په دې چې سلطان ،هيله اوغوټۍ له کومې بلې ليسې نه يوځاى فارغ شوي وو اوملګري يې خوړه وه بله داچې سلطان به کله کله خپلې لنډې کيسې هم دپښتو ځانګې په اونيزوغونډواومحفلونوکې اورولې غوټۍ اوهيله هم څه ناڅه په شاعرۍ پوهېدلې اوګڼ شعرونه يې يادکړي وو همداسې دانورټولګيوال موهم داسې کسان وو چې چې له ځينورسنيواواخبارونوسره يې کارکاوه

ماچې له ليکوالۍ سره له پخوانه مينه لرله تراوسه مې څه نه وو ليکلي ډېرې سوژې مې په ذهن کې پخې کړې وې هيله مې لرله چې يووخت يې وليکم استادانوبه هم په دې ټينګارکاوه چې بايدليکوالان شو ادبيات بې له ليکنې ، څېړنې اوتنقيده په دردنه خوري خومابه چې بياهم هرڅه وليکل نونه به مې خوښېدل خپله داستونزه مې مورته چې په يوه لومړني ښوونځي کې ښوونکې وه وويله خوهغې ويل چې په يوځل ځوک نه ملاکېږي به باربارېې وليکه پلارمې دملګروملتونو دمهاجرو ادارې دخپرونې ځوکنې راته راوړې چې دنړۍ دګنوکډوالوډېرې دردونکې کيسې په کې وې اوپه کيسوکې خپله افغان مهاجرهم راتلل چې دکيسوترڅنګ په کې دهغوى په اړه خبرونه اوداستاني مطالب هم وو يوه ورځ مې پلارله ځان سره دپېښورپښتواکاډمۍ ته هم بوتلم اوله ګنو مخوروڅېړونکو ، ليکوالو اوادیبانوسره يې مخ کړم ډېر و سترو ليکوالوراته دخپلې ليکوالۍ دپيل کيسې وکړې چې په لومړي سرکې زماغوندې وو اوخپلې ليکنې يې نه خوښېدلې اوليکنې يې زمانه هم کمزورې ښودلې خواوس يې کتابونه په پوهنتون کې لوستل کېدل دهغوى بې ساري تشويق دومره وهځولم چې ماويل زرکورته لاړه شم اويوڅه وليکم اوهغه څه چې په پوهنتون کې مې زده کړي اويالوستي په کې ټول عملي کړم له هغې خواداکاډمۍ مشرانوراته دادبياتويوپنډ لاربښوونکي کتابونه هم راډالۍ کړل پلارجان مې که څه هم يوقاضي وو خوپه لارويې دادبياتوپه ارزښت ،ګټو اوديوه ملت په ژوندي ساتلو دومره خبرې راته وکړې چې کټ مټ دادبياتوديوه ښوونکي غوندې ښکارېده.

***

يوه په زړه پورې خبره داوه چې له ميوندزماله وړوخورګانو اوځينوګاونډيوماشومانوسره په درسونوکې زمامورجانې مرسته کوله اوزه يې خپلودرسونوته پرېښې وم اودکورځينې کارونه به مې ورسره کول دشپې که څه هم ګرمي وه خوچپېټرنوټونه به مې راواخيستل دادب پوهنې په اړه به مې کتابونه اونوټونه ولوستل يوه شپه مې دادب پوهنې يوکتاب څوځله ولوسته دلنډې کيسې ژانرمې څوځله له ذهنه تېرکړاوبيامې خپلې لومړۍ لنډې کيسې ته (دمهاجره ) نوم ورکړاوليکنه مې پيل کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې سوځه يې خپل پلار راکړې وه په کيسه کې يوه افغانه مهاجره له کابل نه داسې مهال راووځې چې مېړه يې په يوه راکټي بريدکې وژل کېږي له خپل مشراتلس کلن زوی اوکوچنی اته کلنې لورسره کورپرېږدي پېښبورته راسېږي په يوه پنډغالي کې په خېمه کې ژوندتېروي مشرزوی يې دځان لپاره روزګارلټوي زده کړه ورنه پاتې کېږي بلاخېره دسړل جوړونې په يوه ساختماني شرکت کې کارورته پيداکېږي اوهلته ډبرې ماتوي يوه ورځ دورځونه ورباندې په غره کې کاڼي راولوېږي لومړی يې ملاماتېږي اوبياپه يوه روغتون کې مري مهاجره مجبورېږي چې دنفقې ګټلو لپاره سوال وکړي خوداچې پښتنه ده سوال ورته ښه نه ښکاري اوداپي ضميرنه مني چې دخاوندله مرګه وروسته دې چاته لاس اوږدکړي وړوکې لوريې هم ناروغه وي بله ورځ يوتورمخی سړی راځي اولوريې دپيسوپه بدل کې ترې غواړي مهاجر ه مجبورېږي دلسوزروکلداروپه بدل کې خپله ماشومه لور پرې په دې هيله خرڅه کړي  چې هغه به يې درملنه وکړ ي اوله مجبوريتونوبه يې وژغوري خوکله چې دتورمخې سوداګرموټرروان شي دمهاجرې زړه دردکوي يوه څړيکه په کې راځي دموټرله تورونښښنودهغې دوړې لوراوازراځي په زړه يې دردیوه بله څپه راځي له خولې يې وينه داره کوي اوپرمخې رالوېږي

کيسه مې په ډېروهنري الفاظو وليکله اوده شوم دشپې مې هم همداسې يوه مهاجره په خوب کې ليدله څوځله دشپې پاڅېدم اوبېر ته به اوده شوم سهارمې دچايوڅښلوپه وخت کيسه خپلې موراوپلارته واوروله خوکتل مې چې ددواړه ژړغوني غوندې شول اوپه سترګوکې يې اوښکې وځلېدې افرين اوشاباسي يې راکړل پلارمې داهم راته ويل چې پټه کړې دې ده خوداچې سوځه ده راکړې وه نوويې منله چې ماليکلې

سهارچې پوهنتون ته لاړم کيسه مې په تفريح کې غوټۍ اوهيلې واوروله  چې نظرپرې ورکړي هغوی دواړوولوسته غوټۍ په خنداراته وويل

افرين له تانه هم ښکلې ده

په تعجب مې ورته وويل

زمانه !

هوته له خپلې ښکلاڅه خبره يې قاضي صيب (زماپلار)ملامت نه دی چې دښکلانامه يې درباندې ايښې

بيايې ټوکې بس کړې راته ويې ويل

ډېره ښه ده

ماويل سلطان صيب ته  يې ورکړه نوره به يې درته کر ه کړي هغه په کيسه ليکنه کې په ټول ټولګي کې مهارت لري استادانوهم ستايلی دی

په رخصتۍ کې مې همداسې وکړل درې واړه دکتابتون خواته لاړو سلطان دکوم پنډکتاب پاڼې اړولې اودمېزشاته غلی ناست وو زموږ په ليدوله څوکۍ پاڅېدپه رنګ کې يې لږ بدلون راغی ماليدل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسونه يې هم دمعمول خلاف لړځه لړزېدل له مقدمې پرته مې کيسه ورکړه هغه څلورواړه پاڼې واخيستې زمادتشويق لپاره يې يوڅوخبر ې وکړې اومادليک ستاينه يې وکړه کيسه يې هملته سرسري ولوسته اوبيا په واه واه سرشو ويې خندل اوغوږې ته يې وکتل

زه په خپله کليوا له ويارم هلمند خوما ته يوکلى ښکاري زما په خيال کې هم نه وو چې يوه هلمندۍ نجلۍ به يووخت پوهنتون ته راځي او په کيسه ليکنه کې به زما سره سيالي کوي

ټولو وخندل سلطان په کيسه کې ځينې خبرې وکړې اوڅو جملې يې اصلاح کړې خوما ورنه وغوښتل چې خامۍ اونيمګړتياوې يې ښکاه په کورکې وګوري اوپه کاغذکې يې وليکې اوبيايې ماته وسپارې ځکه چې اوس هسې هم رخصتي وه

هغه هم په خوښيې ومنله داسې مې حس کړه لکه په دې خبره مې چې له کوم لوى عذاب نه ژغورلى وي سباورځ په پوهنتون کې دپښتوادبياتو دودې اوپرمختګ په اړه کنفرانس لپاره يوه مقدماتي غونډه وه دپېښور پوهنتون اوپښتواکاډمۍ ترڅنګ دلروبرګڼ ليکوالان اوادييان په کې راغونډوو اوددغه لوى کنفرانس لپاره په تياريوغړېدل له همدې امله ټولګى بندوو کله چې غونډه خلاصېده سلطان مې خواته راغى ترڅنګ مې کښيناست لومړى يې څوخبرې وکړې ددغه جوړېدونکي کنفرانس په اړه وکړې بيا يې له څونوروپاڼوسره زما کيسه راکړه ويل يې چې ښېګڼې اوبدګڼې يې په کې ټولې ليکلې دي هلته په سټېج ويناوې کېدې اودلته دواړه په خبرومصروف و و خو دپخوا   خلاف دهغه په خبروکې کله بندښت اوسکته راتله له خبرويې ځرګنده شوه چې دلته په حيات اباد کې له خپلې موريوې خور اومشرورورسره چې اوس په پېښورکونسلګرۍ کې ماموردى اوسي اوپلاريې چې يوفوځي افسروو پخوا په هلمند کې شهيد شوى دلنډو کيسو څوکتابونه يې هم راډالۍ کړل اوغونډه پاى ته ورسېده

***

کورته چې ورسېدم له ډوډۍ خوړلووروسته مې همغه پاڼې راواخيستې په دوه پاڼوکې يې زمادکيسې په اړه ليکلي وو چې ډېره په زړه پورې اوښکلې موضوع په کې راغلې په خاميو کې يې ليکلي وو چې ځينې ګرامري قواعد په کې نه د ي مرعات شو ي اودخيال په خم کې ډېره نه ده رنګېدلې بايدډېره په هنراوخيالاتوسينګارشوې وى له دې پرته يې نورټول صفتونه ليکلي وو خوعجبه دا وه چې صفتونه يې دکيسې نه بلکې ټول زما په اړه وو چې زمادکړوورو او په ټولګي کې دچوفتيا اوخبرونه کول دريځ يې په باربارستايلى وو دکيسويوکتاب مې پرانست په کې وړوکى کاغذي پاکټ ايښى وو زر  زرمې پرانېست په يوه رنګه کاغذکې  ليکل شو ي و و پاکټ مې څېرې کړاوپه رېږدېدلولاسونومې دکاغذکرښې ولوستې په کې ليکل شوي وو

ګرانې ښکلا !

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماترننه داوسنۍ زماني په مينه باورنه لرلواصلاپه ماپه کډوالۍ کې عمرپه دومره مصروفيت کې تېرشو چې دميني په مفهوم هېڅ پوه نه شوم اوترننه مې زړه ديوه تياره اوکنډرپه څېرپاتې شو مادخپلې مورنۍ ميني نه پرته بله يوه مينه هم په زړه کې نه ده لوبولې اوپه بازاري مينومې باورهم نه وه

زه خبر ې نه اوږدوم تاته به معلومه وي چې زه ښه تکړه وياندېم خوته ګورې چې تاسره مخ شم ژبه مې بندېږي اولاس مې رېږدي چې ته بيانه يې نوجوړاوروغ شم په دې کيفيت ته زمانه ښه پوهېږې ته باوروکړه چې زه په زړه کې کوم مطلب نه لرم اونه مطلبي انسان يم زړه مې ستالپاره دسپېڅلتيااوپښتني ميني نه ډک دی داهم له هغه شببې چې ته مې په پوهنتون کې ليدلې يې مادنورودميني داستانونه ډېرليکلي خوخپله مې مينه نه ده کړې ممکن ستا په زړه کې دغوټۍ اوهيلې په اړه څه تېرشي خوبايدپوه شې چې زموږ ترمنيځ دوررولۍ اوخورولۍ تاردی غوټۍ له يوه ځوان سره کوژده شوې اوهيله له بده مرغه چې له وړکتوبه دخپل کاکادزوی په نوم ده زه ستاځواب نه غواړم خولږترلږه بايدزماحالت درک کړې اخردواړه په هغه ښارکې پيداشوي يو چې دکلتوري محدوديتونوسره سره يې خلک په مينه او انسانيت کلک پوره باورلري

هيله کوم چې دارازپه خپل زړه کې داسې پټ وساتې لکه په هديره کې چې دمړورازونه خوندي وي

په درنښت

سلطان هلمند

زړه مې درزاکوله زه په دې وخت کې نولس کلنه پېغله وم په ټول وجودکې مې دهيجان يوه څپه خپره وه دهغه په ليک کې کومه بده خبره نه اوپه رېښتياهم له سپېڅلتيانه ډک وو خودالومړی ځل وو چې مې د داډول يوه ځوان چې زماوطندارهم حسابېده داسې عاشقانه ليک ترلاسه کولو دپلارميني ،اعتماداومهربانۍ هروخت زماپه ذهن کې دسلطان انځورپيکه کړی وو وروسته له دې په پوهنتون کې هغه يوه خبره هم نه شوی کولی اوديوه شوخ هلک په ځای ورنه ډېرارام اوغلی انسان جوړشوی وو په مياشتومياشتومې هم له هغه سره بې له سلامه دميني په اړه څه ونه ويل هغه فکرکاوه چې ليک يې په ماډېربداثرکړی که څه هم ډېرعمريې په پېښوركې تېركړی وو خو کره وړه يې بياهم ديوه حياناک کليوال ځوان غوندې وو

زه هم يوڅه په خپل دريځ پښېمانه وم خو په پوهنتون اوپردي ملک کې راته مينه کول ښه نه ښکارېدل يوه ورځ يې دپوهنتون مجله هم راته ډالۍ کړه چې زماکيسه هم په کې دښوکيسه په پاڼوکې چاپ شوې وه دلومړي کال دواړه سمسټرونه همداسې په چوفتياکې تېرشول په زړه پورې خبره داوه چې سلطان په دواړو سمسټرونوکې اول نومره شو اوزه پنځم نومره راغلم غوټۍ اوهيله هم په ښونومرو کاماياب شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی تحصیلي کال په ختمېدو شو اورخصتي شوه په وروستۍ ورځ مې زړه ووچې سلطان ووینم اوورته ووایم چې زه ترې خفه نه یم خوهغه له شرمه هېڅ په مخه نه راته حتی داول نومره ګۍ دمبارکۍ ورکولوموقع یې هم رانه کړه چې زه ورباندې ډېره مایوسه وم اوځان راته ملامت ښکارېده ځکه زه یې کلیواله یادېدلم اوبایدتشویق کړی می وی زه پوهېدم که هغه دټولګي هرې نجلۍ ته دمینې خبره وکړي نوهغه به ورنه انکارځه چې له خوښۍ به په جاموکې نه ځایېږي

په رخصتیوکې زه غوټۍ ، هیله اوزموږ ځونورې ټولګیوالې چې پېښوریانې وې هروخت یودبل کورنوته تلو اویوبل ته به مومېلمستیاوې کولې یوه ورځ غوټۍ راته همدغه کیسه راواخیسته اوراته ویې ویل چې ته ډېره نېکمرغه یې

ماویل ولې ؟

ځواب یې راکړ

ته دسلطان غوندې یوه انسان اویوه ښکلي ځوان دخپلې مینې په توګه انتخاب کړې یې خوته بیاهم......

نورپه خنداشوه

یوه شوم چې سلطان دوی هم خبرکړي اویایې داکارد هغوی په مشوره کړی وروسته دواړوپرلپسې دهغوی صفتونه راته کول اوویل یې چې ځومره پېښوریانې دهغه دمینې ترې دي خوسلطان ورسر ه مینه څه چې معمولي خواخوږي هم نه لري

ماپه خوله ورته څه ونه ویل خوپه زړه کې په خپلو کړوډېره پښمانه وم سلطان چې ماپه تېریوه کال کې وڅارلو ریښتیاهم یوپوه انسان وو دنوروځوانانواومحصلینوغوندې شله ګي په کې نه وه درخصتۍ په اوږدوکې مې په لومړي ځل حس کړه چې ماهم په غیاب کې په هغه زړه بایللی ځکه په باربار به مې دهغه ښکلې څېره په خیال کې ورانه اوجوړه کړه

په زړه کې مې ورځ په ورځ دمینې خواږه دردونه خورېدل کله ناکله به مې ناڅاپه دپوهنتون مجله راواخیسته اودهغه تصویرته به ځېرشوم چې دهغه له نوې کیسې سره په مجله کې چاپ شوی وو

***

دویم ټولګی مونوی پیل شو پوره مطالعه مې کړې وه ګڼې کیسې اومضامین مې لیکلي وو خوکله چې ټولګي ته لاړ م لومړی هڅه مې داوه چې سلطان ووینم خودوه درې ورځې راته معلوم نه شو په څلورمه ورځ چې راغی نوسترې مه شي مې ورسره وکړل اودنه شتون پوښتنه مې ترې وکړه ویل یې چې په رخصتیوکې هلمندته تللی وم په لومړي ځل مې دهغه سره نږدې نیم ساعت خبرې وکړې چې ډېرې یې دهلمنددیادونواوپه لښکرګاه کې دبهر نیوځواکونودبې ځایه بمباریواوژنوپه اړه وې له طالبانویې سرټکاوه چې ښوونځي یې تړلي دي دخبروپه جریان کې مې کتل چې زړه مې درېږي اودهغه په رنګ کې هم بدلون راځي

اخرمې زړه راغونډکړلومړی مې ښښنه ترې وغوښته اوبیامې په ګوډوماتوالفاظوپه دې پوه کړچې مینه یې راته منظوره ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته له دې ورځې به مووخت په وخت دمينې خبرې سره کولې خود سلطان هغه حالت مې کله هم نه هېرېږي چې زمادا اقرارپه وخت دهغه په وجودکې راغی اوپه کوم نظريې ماته وکتل اوزه په کوم حالت کې وم لکه خزان وهلې پاڼه ټوله رپېدم اوحمزه باباشعرمې په سرکې انګازې کولې

غل دمحبت غلطېدی نه شي
څوک چې په محفل کې چاته نه ګوري

نورنوهغه راسره په درسونوکې هم پوره پوره مرسته کوله دهغه ښواخلاقوپه کمه موده کې زمادپلارخواخوږي اودرناوی هم جلب کړدمهاجروپه څوغونډوکې يې زماپلارسره هم وليدل اوپلارمې دموږپه وړاندې څوځله دهغه دښواخلاقواواستعدادستاينه کړې وه دهغه له برکته مې ليکوالي هم ښه شوه غوټۍ اوهيلې هم زموږ سپېڅلې مينه ستايله زماغرنۍ ښکلاپه ځای پاتې وه په پوهنتون کې ګڼو هلکانو سترګې راپسې وړلې خوکله به يې چې دسلطان سره په ګرځېدوکې يوځای ليدلم نوفکريې کاوه چې کورنۍ خپلوي سره لري نوځکه خويې زماسره خبروته زړه نه ښه کاوه
دويم کال مې ديوې سپېڅلې او خوږې مينې په خمارکې تېرکړچې بې دغوټۍ اوهيلې څخه پرته بل هېڅوک هم نه راباندې پوهېدل سلطان زمادتوقع خلاف هم دلوړواخلاقو اواستعدادمجسمه اوپه ځوانۍ کې ديوه ښه شخصيت نه برخمن وو ډېرځله به په ټولګي ، لاراوکتابتون کې سره يوازې شووخودهغه له خولې مې يوه خبره هم داسې وانهورېده چې دويلو دې نه وي ډېره شوخي به يې داوه چې په موسکابه يې زمادښايست ستاينه وکړه اوويل به يې چې زمامينې له درسه ويستلی دی خوداسې نه وه هغه په انګلېسي کورس کې استاد شو اواول نمره ګي يې هم ټينګه کړې وه چې ماپه زړه کې وياړپرې کاوه نورراته داسې ښکارېدل چې خدای پاک هغه زمااوزه دهغه لپاره پيداکړې يو مابه چې د کړووړواودهغه په اړه دخپل پلاردريځ ته کتل پوره يقيني وم چې دراتلونکي ژوندپه شريکېدوکې به موکومه ستونزه نه وي دمينې دغه خوږو شپېوزه دژوندپه ډېرورازونو وپوهولم له سترګومې پردې لرې شوې دهغه پاکې مينې داسې دروااوسمسوروورشوګانوته يوړم چې ساعتونه په کې دشپېو په څېر تېرېدل ،دنړۍ ټولوباغونوخوشبويي په کې خوره وه وږمومې قدمونه ښکولول بلبلانودمينې سندرې ويلې اودلمرزرينووړانګوله ګلپاڼوسره لوبې کولې هلته دسهارله شوره ډکې اودماښام په چوفتياکې ډوبې رنګينې شپېې دځوانۍ خوبونه ته ورته وې چې نه يې کو م شاعرپه شعرکې انځورولی شي اونه يې هم ددې نړۍ نقاشان په تابلوګانوکې پنځولی شي ماته داسې ښکارېده چې ددغه ورشوپه نازکوچمنونواوګلغوټيولومړي قدمونه ماايښي خوڅوقدمه چې لاړم راته څرګنده شوه چې دنوروانسانانود دپلونوخاورې هم په کې نشه کوونکې خوشبويي خوروي ماهم هلته درنګارنګ ګلونوپه بسترخوب پيل کړسترګې مې سره ورغلې اوهلته مې په بښود شاتودمچيودپښنوپه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څېرد ګلونو اورنګونوشيرې ځای ونيوه خوچې دنسيم يو ې خوږې عطرينې څپې له دغه نازدانه خوبه راپاڅولم نودرېيم ټولګی هم پای ته رسېدلی وو زماسلطان همغسې زماپه سترګوکې ښکلی وو لايې هم نوم دټولوټولګيوالوپه سرکې راته ليکنې مې هم دهغه له برکته په مجلواوروځپاڼوکې خپرې شوې وې چې ډېرلوستونکي يې زمادليدلوپه ارمان وونورنوزموږ پښتنه مينه هم دپټېدلونه وه په مينه کې به موترټولولويه جذبه دومره وه چې په يوازېتوب کې به مو يودبل لاسونه يوه شېبه ټينګ ونيول اوډېرډېرافراط به داووچې ديوه اوبل لاسونه به مو بې اختياره ترشونډويوړل اوښکل به موکړل
***
په دريم ټولګي کې په رخصتيوکې يو ه مهمه خبره داشوه چې غوټۍ مې مورراباندې خبره کړه اوله هغې مې دپټې مينې خبره پلارته ورسېده که څه هم زماپلارډېرمهربانه ووخوخپله مينه راته دهغه په وړاندې يوه سرغړونه ښکارېده زماوېره بې ځايه وخته برعکس پلارمې يوه شپه زه خپل څنګ ته کښېنولم زمااوسطان دمينې کيسه يې راواخيسته اوپه دې يې ملامته کړم چې ولې دې پخوازه نه خبرولم سپېڅلې مينه کومه ګناه نه ده اخرماهم ستامورپه مينتوب کړې وه دهغه په دې خبروچوفه خوله له کوټې ووتم اوبيامې يې دمورسره ترنيموشپوخبرې کولې خوزه لکه کوم لوی جرم مې چې کړی وي په خپله کوټه کې ناسته وم اوځان مې په مطالعه مصروف کړی وو
دشپې په سهارمې څه ليکل چې دکورتلفون ته دسلطان زنګ راغی و رباندې بندمې کړيوې بلې کوټې ته لاړم اوهلته مې ورسره په ارام خبر ې پيل کړې سلطان مې خبرکړچې دمينې خبرې موغوټۍ زماترپلاره رسولې خوهغه ددې په ځای چې ورخطاشي ويې خندل اوزياته يې کړه لېونۍ هېڅ فکرمه کوه زه وايم له دې وېرې به دې ټوله شپه په ويښه تېره کړې وي هغه کارهم زماپه خوښه شوی ماخپله کورنۍ خبره کړې غوښتل مې ستاپلارمې هم خبرشي دريمه ورځ له خيره جرګه درځي ګوندې خدای دزماکړي اخرديوه وطن يو هغه وخندل غږيې لږ پيکه شوبيايې زياته کړه وروراومورمې خوښ دي اوزماداپرېکړه يې ستايلې خدای دې وکړي چې هرڅه سم ترسره شي خوڅه يادونه دې ته هم پلارته وکړه شرمېږه مه زمااوستادراتلونکې ژوند خبره ده څه ټوکې خونه دي اونه هم خدای مه کړه کومه ګناه ده هغه دعبدالله مقري سندره دې نه ده اورېدلې
اوتابه ماته راکوينه....
زه تلوارکومه......
هغه وخندل خومادبښنې په غوښتلوتلفون پرې بند کړچې خبرې ښې نه دي
***
همداسې وشول پلارمې هم په تلفون کې دسلطان له وروراماناﷲ سره چې په کونسلګرۍ کې ماموروواوپه امان سره يې شهرت درلودپه دې اړه خبرې کړې وې دهغوی جرګه چې پنځه کسه وه راغله پرېکړه دهلمندپه ځای دپېښورپه دوداودوستوروشوه زمادسمال يې ورکړدهغوشېبودخوښيوبيان کله هم نه شي راتلی ،زه دهغه چاپه نوم شوم چې پرې مينه وم درېيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولګی هم پای ته ورسېد زمااوسلطان په یوځای ګرځېدونورهېڅ نېوکه نه وه خو پېښتني احساس بیاهم
ددې اجازه نه راکوله چې دهرچاپه مخ کې دې خبرې وکړو زه اوس دهغه کوژدنه وم اوپه درسونوکې
مویودبل سره پوره سیالي کوله ماته ځان دد ې نړۍ ترټولونېکمرغه نجلۍ ښکارېده هغه ورځې
زمادژوندله ډېروښکلواورنګینوورځونه وې لنډه داچې په څلورم کال فارغېدلو نو یوه ورځ وروسته
زمورږ واده هم په خوښۍ سره ترسره شو زه دسلطان اوسلطان اوزماشو ماله دې نه پخوادمینې
ډېرداستانونه لوستي ووخو پایله یې زموږ خلاف وه دلته بایدووایم چې زماسره داسې الفاظ نشته
چې دخپل پلارجان اوګرانې مورجانې ستاینه اومننه پرې وکړم هغوی زموږدزده کړې لپاره خپل وطن
پر ېښوداوبل وطن ته رامهاجرشول هغه زمادخورګانو اوورورجان لپاره خپله یوه برخه ځمکه هم خرڅه
کړه ځکه هغوی په یوه خصوصي لېسه کې زده کړه کوله دمهاجروپه اداره کې هم ګڼ مهاجرزمادپلارله
کارونوخوشحاله ووا وهغه ورسره په وخت لازمه مرسته کوله
په هغوشپوکې له خوښۍ په جاموکې نه ځایېدم چې زه یې دخپل ژوندنېکمرغه ورځې شپې بولم هغه
په دې چې یوله پوهنځي نه پنځم نومره فارغېدلم اوبل داچې خدای یوښکلی یوه دژوندملګری راپه
برخه کړی وو.
خوکله چې پنځه میاشتې وروسته دواده په ورځ زماډولۍ دسلطان کورته روانېده پام مې شو چې
دلومړي ځل لپار ه مې دپلارجان سترګې له اوښکوډکې دي هغه په ډېروسختوورځوکې هم نه ووژړلي
اونه هم دومره خفه شوی وودهغه اوښکوزماورپام کړچې دموراوپلارله هغه خوږې غېږې جداکېږم چې
دخپلې مشرې لورپه توګه یې په پوره نازونورالویه کړې وم زده کړه یې راباندې کړې وه اوداسې چاته
یې واده کولم چې زمادخپلې خوښې ځوان اودخیالونوملګری وو
سلطان دویم نومره فارغ شو په پوهنتون کې یې داستادۍ لپار هم چانس درلودخو هغه نه غوښتل
اویوې بلې خیریه موسسې ته یې اسنادورکړي وو
۱۳۸۵کال وو دپاکستان حکومت یوځل بیا په جدي توګه له مهاجرووغوښتل چې خپل هېوادته دې
ستانه شي ځکه دهغوی په اصطلاح اوس په افغانستان کې پراخ بنسټه حکومت راغلی وودایې هم
ویل چې ټاکنې ترسره شوې دکرزي حکومت ارامي راوستې اوجګړه نورپای ته رسېدلې په راتلونکې
یوه میاشت کې چې هرڅنګه وي بایدټول مهاجرکمپونه خالي کړي یوان اچ سي ارهم ددغه میاشتې په
تېرېدو خپل ګڼ کارکوونکي ویستل چې ظاهرایې دبودیجې کمښت اودکارونوسپکوالی بهانه کړی
ووپه دغه کارکوونکوکې یوزماپلارهم وو په بله میاشت کې نامعلوموکسانو دپېښوردکونسلګرۍ
دماموړینوپه یوه موټرپه حیات اباد کې ډزې وکړې درې څلورکسه یې ټپیان شول چې یوپه کې
زمالېوراماں (دسلطان مشرورور)ووهغه هم دسلطان غوندې نېک انسان وو خومتسفانه چې زخمونه
یې کاري وو اویوه اونۍ وروسته یې په روغتون کې ساه ورکړه ځوانه ښځه اودوه ماشومان یې موږته
راپاتې شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه شپه مې پلارزموږ کورته راغی ویل یې چې نوردلته نه پاتې کېږي اوبېرته لښکرګاه ته ځي هلته اوس یوڅه ارامي راغلې دبیارغونې کارونه پیل شوي اومکتبونه پرانستل شوي دي ، کاراهل کارته سپارل کېږي سلطان هم چې دورورمرګ ورباندې له حده زیات اثرکړی وو له پېښوره یې کرکه کېده اوله پلارسر ه مې یې تلوته تیاري ونېوده وروسته یې هغه موسیسې ته چې ده په کې په ښه پوست کارکاوه استفاورکړه ماته یې ویل چې دنده درته پیداکوم خوموریې (زماخوابنې ) ددې مخالفه وه چې په پردي ملک کې دې دنده واخلم پنځلس ورځې وروسته دنورومهاجروسره زموږ کډې هم دهلمند په لورروانې شوې دومره هم په دې وځنډېدو چې دورورااوخویندوتعلیمي اسنادمونه ووجوړکړي سلطان ته کونسلګرۍ داوړاندیزهم کړی وو چې دامان په ځای دنده اجراکړي خودسلطا ن دادنده نه خوښېده

اوویل یې چې زه یودېپلومات نه بلکې ادیب یم اوپه خپله برخه کې بایدخپل استعدادوازمایم یوماښام موږ ټول دتورخم له پولې واوښتو اوډېره موده وروسته راباندې دخپل وطن هواولګېده وړاندې دپولیسوترڅنګ دبهرنیوسرتېروګڼ ټانکونه هم ولاړوو له هغه ښاره وتم چې مامینه اوزده کړه په کې کړې وه سلطان ته مې وکتل چې سریې زماپه اوږه ایښی وو اوارام خوب یې کاوه

.***

دویمه ورځ لښکرګاه ته ورسېدوپه لاروکې موولید ل چې په سړکونوکارروان دی ځای ځای دبیارغونې کارونه هم روان وو خوهرځای بهرنیوسرتېروهم کلکه تالاشي کوله دبهرنیانوپه بمباریواودطالبانوپه حملوکې ګڼ هغه کسان وژل شوي وو چې موږ په لښکرګاه کې پېژندل ، دوه ورځې موږ هم دخپل پلارپه کورکې تېرې کړې وروسته دسلطان دوی خپل کورته لاړوچې کاکایې مخکې له مخکې ورته خالي کړی وو اوځینې وران ځایونه یې رغولي وو دلته حالات هسې هم نه وولکه په پېښورکې چې ویل کېدل اویاموله راډیوګانواورېدل خویوه خبره چې زمالپاره په زړه پورې وه داوه چې دنجونولپاره په لښکرګاه کې ځوښوونځي رغول شوي و و چې په توروجامواوسپینوپړوونوکې ګڼې نجونې ښوونځیوته تللې . پلارمې ځوورځې وروسته بېرته دلښکرګاه په محکمه کې دنده ترلاسه کړه سلطان ته دولایت په مقام کې ډېر زردانګلیسي ژباړن اومطبوعاتي کارکوونکي په توګه دنده پیداشوه چې په وزګاروخت کې یې ځودولتي ریسانواونوروزده کوونکوته هم انګلیسي ورزده کوله ماهم په یوه منځني ښوونځي کې دښوونکې دنده واخیسته.

دوه میاشتې وروسته زمااوسلطان دمینې لومړۍ وغوړېده اونوم موپرې شګوفه کېښودشګوفې زموږ دمینې وږمې خورې کړې په کورکې موله مودو مودوورسته دیوه ماشوم دژړاغږ اوچت شو اوپه موږ له یوې خوږې سندرې نه هم خوږ لګېده ، دسلطان په مخ به بیاهم دحیاڅپه خوره وه کله به یې چې زماپه غېږ کې شګوفه ولیده نوموسکی به شو اومخ به یې بله خواواړولوچې ماته به یې دپوهنتون دوخت دنااشنایۍ وختونه سترګوته دورول خوزمادلېوره امان کونډې اودهغه ددوماشومانوتنکیوځېرودغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوښي ترخپل سيوري لاند ې راوستې وه که څه هم سلطان هره شېبه هڅه کوله چې دغه دوه ماشومان خوشحاله وساتي اوله هرڅانه ورباندې ډېرپام وکړي ددې سره سره شګوفه لاس په لاس ګرځېده ډېرونازولواوښې پالنې ، پلرنۍ اومورنۍ مينې داسې وغوړوله چې په څلوروپنځومياشتوکې ديوه کلن ماشوم غوندې ښکارېده.

خوله بده مرغه چې د ۱۳۸۵کال له نيمايي وروسته زموږ له کورنۍ څه چې له ټولې لښکرګاه خوښۍ لمنه ټوله کړه په څوځايونوکې امريکايانوبې ر حمانه بمبارۍ وکړې يوه ورځ دامان کونډه له خپلوماشومانوسره مارجې ته دخپلې پلارګني يوه واده ته تللې وه خويوتصادف داووچې دشپې په واده بمباري وشوه سهارخبرراغی چې په بمبارکې شل کسه وژل شوي دي چې ټول ملکي وګړي دي خووروسته څرګنده شوه چې دڅلوېښتوپه شاوخواکې کسان په کې وژل شوي دي له بده مرغه چې دامان کونډه اوماشومان هم په شهيدانوکې پيداشول شهيدان ورته ځکه وايم چې دوی ټول مظلومان اوديوې نامقدسې جګړې قربانيان وو هېڅوک هم په دې کې شک نه لري چې دغه کسان بې ګناه اوبې سرپناه وو خوابښې مې له ډېرخفګانه په ورځ کې درې څلورځله ضعف کېدله لس ورځې وروسته يې له ډېره خفګانه په خپل کورکې ساه ورکړه اوزموږ په سريوبل اسماني کانۍ هم راپرېوت نورنوماواوسلطان ته بې له اوښکواودردنه پرته بله څه نه وو پاتې هره شېبه مې له خوښۍ تشه وه له ويراوغم کې تېرېده خود تقديرزړه لاهم په موږ نه ووسوړشوی پلارمې له څوهمکارانوسره کندهارښارته دکوم قضايي سمينارلپاره تللی وودوه شپې يې تېرې کړې له هغې خواچې راته دکوم شيطان په سبب دطالبانوپه کمين وربرابرشو دغه شيطانت ورته يوه داسې کس کړی ووچې پلارمې دهغه ناحقه پلوي نه وه کړې دربېيمه ورځ خبره شوم چې زمادپلارپه شمول دمحکمې دڅلورونوروکارکوونکو په مرميوسوري سوري جسدونه لښکرګاه ته راوړل شوي دي ددې غم بيان زماپه الفاظوکې نه شي راتللی بله ورځ خبرراغی چې دسلطان يوازينی تره په ترياکوله قاچاکبروسره په کومه لفظي لانجه کې دهغوی لخواپه ډزو ووژل شوسلطان ته هم ګواښونه کېدل چې خپله دنده پرېږدي يوه شپه يې راته وويل چې هلمنديوځل بياد پېښورپه نيت پرېږدي خوپه لاروباوري نه دی چې دطالبانوله وېرې به خوند ي ووځي ځکه طالبانوهم دبهرنيوغوندې هرځای تلاشۍ کولې په راديوکې مواورېدل چې بهرنيان چې په سرکې يې امريکايان دي د طالبانوپه ضدسخت عمليات پيلوي ټول خلک يوځل بياپه وېره کې وو خودغه عمليات کومه نوې خبره نه وه هره مياشت به ملکي خلک دطالبانواودحکومت دپلويانوپه نوم دطالبانوپه بريدونوکې اودحکومت اونړيوالوځواکونوپه بمباريوکې وژل کېدل اويابه ټپي کېدل دوه کاله په همدې ناورين کې تېرشول هرڅاتمه لرله چې په نوې مياشت کې به حالت ښه شي امن به راشي خوهرڅه برعکس ختل دنجونومخکيني فعال ښوونځي دطالبانوله وېرې وتړل شول په شاوخواوولسواليوکې هره ورځ ګرمې جګړې روانې وې چې يوازې موږ ليدلې اوموږ يې قربانيان وو بې ځايه مرګونه کېدل تردې چې خپله دلښکرګاه ښارهم خوندي نه وولاهم داسې کسان و چې زمادپلار

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوندې فکرونه يې لرل اوددغه تاريخي ښار څخه يې دعلم اوپښتني فرهنګ دڅاڅوبي جوړلوفکرونه لرل خوبايدچې سرونه يې په لاس کې ګرځولي وی ځکه اوس ددې ډول ارمانونوپوره کول اويالرل دسرپه بيه تماميدل

زمادپلار اودهغه دملګروپه ذهن کې دبست دتېربرم يادونه وو دلته رسنيواومطبوعاتو ددروغوژبې هم غځېدلې وه بهرنيان هم دحکومتي چارواکوغوندې په دروغوعادت شوي وو دحکومت اومخالفووسله والومېړانه داوه چې يوبل ته دتلفاتوشمېره يوله بل نه لوړه وښيي دغورسنيوهلمنددنړيوالوپه خولوکې پوره مشهورکړی وو دلندن اوواشنګټن په څېرپه رسنيوکې يادېده اوبهرنيان يې له نامه سره پوره اشناشوي وو ددې ولايت په اړه يوازې دمرګ ژوبلې اوجنګونوخبرونه خپرېدل په سلوکې په که کوم يوخبردبيارغونې په اړه وو ترياک هماغسې په جوش سره کرل کېدل لکه دطالبانوپه پاچاهۍ کې چې وو اوس دکيسه ليکنې لپاره سوژې ډېرې وې خو خوپه ماکې دليکلوتوان اومينه نه وه پاتې هره شېبه اوهره ورځ دکيسه ليکنې لپاره يوه سوژه وه خوداهرڅه په روغوزړونوکېدل اوس راته خپله ځان دژوندپه کتا ب کې ديوې کيسې اتله ښکارېدله ،هغه څه چې په هلمندکې تېرېدل يوازې ماغوندې بې وزلونجونوته څرګندېدل اوموږ وربانديې ترهرچاوړاندې ښه پوهېدو.

زماوېره هغه وخت لازياته شوه چې سلطان به هرمازديګر دپوليسو يوه رنجرموټر ترکوره رارسولومابه په باربارزاری ورته کولې چې کابل ته لاړشو له دولتي چوپړنه تېرشه هلته ته کولی شې په هره رسنۍ کې کاروکړې داوسنۍ زمانې له عالي مهارت انګلېسي ژبې څخه برخمن يې خوهغه به په حسرت سره ويل چې خپل هلمندته بايدپام وشي ګوندې وي چې يوه ورځ هلمنديان واقېعت ته غاړه کېږدي بهرنيان دغه عمليات پای ته ورسوي اودغه خلک چې ټول هېواداو حتی نړۍ ته يې دمرکواوجرګودرس ورکړی يو وخت دخبروله لارې رامات کړي خودهغه داخيالونه ماته ديخ له پاسه نوشته ښکارېده دايې هم ويل چې که زمامور يې ورسره ومني نوله ميونددوی سره به په ګډه په يوه کورکې ژوندپيلوي.

***

۱۳۸۸ لمريزکال دثوردمياشت وه له ساړه ژمي وروسته بياطالبان فعال شوي وو يوه ورځ دشپې اوده وو چې په تياره کې شورماشورشو اودډزوغږونه واورېدل شو ل پوليسوپه لاسپيکرونوکې نارې وهلې چې له خپلوکورنومه راوځئ ښارته طالبان راننوتي داناري اوشورهره خوادځنګل داورپه څېرخپورشو پرلپسې ډزې هم دپخوانه په لوړاوازپيل شوې زماسره مې دموراوخورګانووېره وه ځکه دهغوی کوردښارپه څنډه کې وواوموږ يوڅه په امن کې وو سلطان ته مې وويل چې ميوند ته تلفون وکړي همداسې يې وکړل ماليدل چې دلومړي ځل لپاره دسلطان لاسونه لړزېږي له هغې خوادميوندله شوره ډک اوازراغی ګډې وډې خبرې يې کولې خودومره وربانديې پوه شوو چې ددوی له کوره بهر په شاوخواکورونووسله وال طالبان چې مخونه يې پټ کړي ورختلي دي دوی په کورونوکې پناه اخيستې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اومور ته وايي چي شورمه کوی هره شپه مو په مرګ او نورو ښکنځلو ګوابنوي په همدي خبرو کي دیوي چيغي سره دهغه اوازبندشو شپه پس په هواکي دجيټ الوتکو اوازونه واورېدل شول چي په تيته فضاکي يي الوتني کولي له دي غږونو سره که څه هم عادت شوي وو خو په شپه کي ډېرو ډېروونکي ښکارېدل څو ځله يي دښارکومه څنډه بمبارکړه او د ډزوغږونه روان وو نيمه شپه اوازونه یو څه غلي شول خو بهرته هېڅاهم دوتلو اجازه نه لرله زمادمورا او ميوندتلفونونه هم بندوو دسهاررڼا په خورېدوه پاڅېدم مورېته ټوله شپه په ويښه د پښو په سرتېره کړي وه سهارهسي پرموښکي. وړي وم خو کتل مي چي سلطان مي ترڅنګ نشته فکرمي وکړچي جومات ته دلمانځه لپاره تللی او يا به دشپي دپېښي په اړه له چانه معلومات راټولوي که څه هم هغه بېګاډېرو پوليسو او امنيتي کسانو ته چي ده ورسره پېژندل زنګ وهلی وو خودهېچاسره هم ددي ناڅاپي پيښي په اړه معلومات نه وو بهرته مي وکتل ټوله فضاګردونو پوښلي وه لاهم په هواکي ګردجنه وربځ خپره وه په اسمان کي دالوتکو پيکه غږونه اورېدل کېدل شګوفه چي اوس څلورکلنی. ته نږدي کېده په خوابه خوب اوده وه اوکله کله به يي شونډي موسکی شوي خونه پوهېږم چي کوم خوب به يي ليده په کومه کوڅه کي به يي له چاسره لوبي کولي کله کله به يي خنداهم وکړه چي ماته حيرانوونکي نه وه هغه زمااوسلطان دميني لومړی ثمره وه اوپه دواړودومره ګرانه وه چي سلطان به ويل چي ترڅومي شګوفه په لومړي ټولګي کي نه وي داخله کړي بايدزموږ په کورکي بل ماشوم نه وي زه نه پوهېدم چي هغه ولي داخبره کوله اوولي يي په ژوندکي يي تردي دمه ديوه ماشوم دلرلو هيله درلوده !!!

زمازړه بي واره په سلطان پسي درزېده نږدي اته بجي وي چي په دروازه راننوت مخ يي يو څه سپېره وو ايله اوس مي پام شوچي دکوردروازه موخلاصه پاتي ده مخ يي سپېره وو اوسترګي يي له اوښکوسري اوښتي وي زماپه ليدو دبرنډي په څنډه کښناست او ناڅاپي په ژړاشو وروسته چي په خبروراغی نوڅرګنده شوه چي دشپي په بمبارکي زمادمور، کاکااوشاوخواشپږ اوه کورونه له خاوروسره خاوري شوي دي په کي پټ وسله وال څه چي کومه چرګه اوسپی هم ژوندی نه دی پاتي يوازي زماکاکاخسراوکاکاناوي چي شپه يي په بل ځای کي وه ژوندي پاتي دي ددي خبري په اورېدومي په زړه کي ددرد څړيکه راغله همغلته ضعف راباندي راغی اوبيا په ځان نه يم پوهېدلي.

***

ددي ورځي په مازديګر په رسنيوکي دهلمندامنيتي ځواکونويوخوااوايتلافي ځواکونوبل خواپه وياړسره دکورنيواوبهرنيورسنيوله لاري خپلي برياوي اعلانولي چي په لښکرګاه کي يي دوسله والوطالبانودبريدونومخنيوی کړی دی په لسګونومخالفين يي وژلي اونيولي دي خوپه هغه شپه هېچاته هم زماپه څېرد ګڼونوردردمنوداوښکوډکوسترګواوډېروسلګيونه دوچوستونواوازونه رسېده . په اورکي هغه سوزېدل چي اورپري بلېده ملکي خلک ديوه عشرپه ترڅ کي خاوروته وسپارل شول ،وسله وال وژل شوي کسان دڅوورځولپاره دبهرنيوعکاسانولپاره اېښودل شوي وو چی حکومتي اوبهرني ځواکونه ورباندي خپله بريانړيوالوته څرګنده کړ ي خوهېچاهم له دي نه وړاندي هغه هديري

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته سر ورښکاره نه کړچې زمامورجانه میوند ، لیلااوډېوه په کې دناڅرګندې ګناه په تورپه ابدي خوب اوده وو نورنوزموږ په کورنۍ کې دومره څوک نه ووپاتې چې زمادکورنۍ قبرونه له نوروبېل کړي په هغه خودکتهاروبیرغونوجوړول اوګلونوشیندل لاپه ځای پرېږده سلطان هم دسودایانوغوندې له دردده یوه خبره نه کوله یوه میاشت موله ډېره غمه یوازې دومره څه خوړل چې دنوروغمونودهرکلي لپاره وربانديږ ژوند ي پاتې شو اوخپل دردونه وژاړو خودازمایښت ورځې مولاپای ته نه وې رسېدلې کله به مې له ځان سره شکرونه اېستل چې په داسې کورنۍ کې واده شوې یم چې ټوله لوستې وه که په یوه بله کورنۍ کې وی نو حتمی به په بدشګون سره مشهوره وی ځکه دسلطان دوی دکور نۍ دبربادۍ پیل دغه کورنۍ ته زماراتګ سره پیل شو خو بیاهم دغه ناورین په ټولو وو بلکې په هردرداوغم کې به هم سلطان هڅه کوله چې ماخوشحاله وساتي

یوه میاشت وروسته راته سلطان ویل چې سبادوالي سره په یوه کاروان کې دکجکي دبرېښنابنددکتلولپاره ځي ځکه چې ځینې بهرنیان غواړي چې دغه بندورغوي نوله نږدې څخه یې ګوري مامنعه کړخوویل یې چې دانګلیسي دژباړن په توګه دوالي غوښتنه ده چې باید هلته ورسره ولاړشم ګوندې وي دهغو ی مرستې ددغه بندرغولوته راجلب کړو اوپه هلمندیوڅه رڼاشي

سباورځ همداسې وشول ماسپېښین مې راډیونیولې وه سلطان مې بې وخته په زړه اورېده اوشګوفې په انګړکې لوبې کولې په راډیوکې یوعاجل خبرراغی چې دوالي دموټرونوپه کارو ان دکجکي بندنه دراستنېدوپه مهال دسړک دغاړې بم چاودلی سرراباندې وځرخېد زرمې سلطان ته زنګ وواهه خومبایل یې بند وو په خبرکې راغلي وو چې والي ته څه زیان نه دی رسېدلی خودولایت دمقام یومشاوراودرې کارکو نکي چې په یوه موټرکې سپاره وو وژل شوي دي

مازدیګر مهال څرګنده شوه چې داټکه هم دیوې بې وزلې نجلۍ په سررالوېدلې وه شاوخواګاونډیانودپولیسو په بدرګه دسلطان په وینو سوراوټپي بدن چې نورله پېژندګلوی وتلی وو دولایت نه په تیاره کې راوور ماپه دروازه کې ضعف وکړاوهغوی په مازدیګرکې زماسلطان خاورته په وینولړندوسپاره په دې څلورکونجه دنیاکې زمایوازینۍ پناکاه اوساتونکی له خدای (ج) نه وروسته سلطان وو هغه هم په وینوسوررانه لاړاوڅلورکلنه شګوفه یې دمینې دیا دګارپه ډول راته پرېښوده زه نیمه شپه په خودراغلم په روغتون کې وم دولتي ډاکترانو اودوالي یوه استازې په واروارډاډراکولو چې تشویش مه کوه یوه ډاکترراته ویل چې والي صیب دې پوښتنې ته راغلی وو اوته بې هوشه وې ستادخارنې لپاره موږ ته سپارښتنې کړې دي هغوی ټولې خبرې اوډاډګیرنه بې مفهومه وه یوازینۍ هیله مې داوه چې نورځان ووژنم هسې هم دتقدیرپه پاڼه زموږ په کورنۍ داجل دوروستي غشي نښه زه یم خوبیابه مې شګوفه سترګوته ودرېده چې دیوې سپېڅلې مینې وروستي څلي ته ورته وه یوه غیبي اوازبه هره شپه راته ویل.

نه ښکلا !

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخدای دانړی ډېره ارته ده اوازمایښتونه مختلف دي بایددشګوفې لپاره ژوندوکړې په بایددهغی قاتله نه شي یوه شېبه وروسته به راته دژړا ،اوښکو اواوسېلو پرته بل هېڅ نه ووپاتې همدغه غیبي اوازڅوځله دځان وژنې له ناوړه پرېکړې نه رواګرځولم یوه څلورویشت یاوپنځه ویشت کلنه مېرمن چې دژونددټولوستونزوپه وړاندې ټوله مقاومت شي هم کومه مانانه لري یوازې پرد ې حیرانه وم چې مرګ ولې رانه لارچپوي اوزه یې هېره کړې یم..

***

لښکرګاه راته دمینې اوژونددټاټوبي په ځای کربلااوقتلګاه ښکارېده حکومت اونړیوالو دداډل وژنوپه غبرګون کې یوازې دپلټنوامرکاوه دولایت دمقام لخوامې ټولې مرستې اوپه اصطلاح زمادمحبوب سلطان خونبهاردکړه په لسمه ورځ د سلطان د بوډاکاکا اوکاکا ناوې سره دکډوالوپه یوه وړوکي کاروان کې دکابل په طرف روان شووپرلپسې غمونوزمادکاکاخسر (دسلطان تره )ملاهم بې وخت کړوپه کړې وه اوپه توروبښتانویې سپین زوررورشوي وو چې بوډاښکارېده هغه مې په پلارحتی له مورنه هم ډېرګران وو اودانا ځاپې تغیرات هم په کې زماد پلاراوسلطان له مرګ نه وروسته راغلي وو اوترټولوزیات دخفګان وړداوه چې په اعصابوکې یې هم بدلون راروان وو کندهارموپه دې دهستوګنې لپاره غوره نه کړچې هلته هم بهرنیانودې ته ورته ګلان کرلي و و هره خواهلمندي مهاجرپه خېموکې بې وسه پراته وو ځکه نو خلکوکوښښ کاوه چې کابل ته لاړشي مونږ هم په یوبې منزله سفرروان شوو اودکابل لاره موونیوه

کابل ته په رارسېدومو همدغه سیمه داوسېدولپاره غوره کړه چې لومړی ځل تازه دیوې سوالګرې په جامه کې په کې ولیدمه څوشپې په همدې څلورلارې کې پراته وو یوې موسیسې راته خېمې اوڅه پلاستیکي لوښي راکړل خوژوندموله سوالګروهم بدترری دکابل پولیس اوبهرني سرتېري اوس هم وېره لري چې هسې نه تروریستان په دغه خېموکې پټ نه شي اودکابل امنیت تهدیدکړي خودلوږې اوګرمۍ په سبب یې زمونږ دماشومانوژړاګانې کله هم غونږ وته نه رسېږي اوس چې ماښام په خېمه کې اوده شم شګوفه پرلپسې رانه پوښتنې کوي

مورجانې خپل کورته کله ځو؟

اغامې له ادیرې کله راځي ؟

اباولې ماته خبرې نه کوي ؟

داکوم ځای دی ؟

هواوس دکیسولپاره سوژې زیاتي دي خوزماسره کاغذاوقلم نشته اوګوتې مې دقلم په ځای دبل څه غوښتنه کوي زمااوسلطان وړوکی کتابتون په لښکرګاه کې خورشو اوځان ته موورباندې خواړه اخیستل

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

داستان یو ځل بیا وژړولم په ذهن کې مې ډول ډول خیالونه روان وو ، ټوله نړۍ را باندې وڅرخېده او هر څه راته تت او تیاره ښکارېدل پاڼې مې ټولې کړې او یوې خواته مې وغورځولې ، شېبه وروسته دروازه ټک ټک شوه چې ورغلم پلوشه وه، ویل یې پلار دې غوا ړي ماهم اوښکې پاکې کړې پلار مې یوازې دومره وویل چې یوه سي وي دې جوړه کړه چې په د فتر کې په کار ده ما همداسې وکړل له کمپیوټر سره مې ځان مشغول کړ او سي وي مې جوړه کړه له هغې وروسته مې هر ورځ په حالت کې بدلون راته په دوه دریو ورځوکې به خامخا د ابراهیم بن ادهم د جومات خواته تلم او له ملا شمس الدین سره به مې پام په بله وو ، خو شېبه مې هم ښکلا له یاده نه وتله اوس نو ملا شمس الدین هم ددغه داستان په لوستلو پوره خواشینی وو او په وریادېدلو به یې امریکایانو او بهرنیانو ته په کنځلو خوله ورخلاصه کړه او ویل به یې چې د بدبختیو ټول سبب یې بهرنیان دي.

زه په هغه خېمو څو ځله وګرځېدم خو ښکلا او شګوفه مې ونه لیدل او نه مې هم له چانه د هغې پوښتنه کړې شوه په همدې کې رخصتي خلاصه شوه له یوې میاشتې نه زیاته موده تېره شوه یوه ورځ له ملاشمس الدین سره ناست وم چې خبره بیا په ښکلا پورې یاده شوه راته ویل یې چې نور بې ځایه فکرونه پرېږده تا له هغې سره خپله خواخوږي څرګنده کړه نور هغه خپل تقدیر ته پرېږده دهغې به قسمت کې به همدا وي خدای به یې ساتي خپل عادي ژوند پیل کړه کله چې له خبره واده وکړې هر څه به دې هېر شي.
د هغه داخبره راباندې ښه ونه لګېده د لومړي ځل لپاره ورته غوصه شوم ملاصیب اخبره که یو عامي کړې وی څه خبره نه وه خو ستا غوندې کس سره دا خبرې بدې ښکاري چې داسې شوه نو بیا انساني خواخوږي او انسانیت څه شو تا نه دي اوریدلي چې

زړه یې مه بوله تور کاڼی د صحرا دی
په لیدو د زخمي زړه چې زخمي نه شي

ملاشمس الدین وخندل او زیاته یې کړه
سلطانه زما مطلب دا وو چې معلومه کړم هغه څومره درباندې کرانه ده نو چې داسې شوه نو یوازې یو ډول هغه ته نجات وکولی شې.
څه ډول؟
هغه داسې چې ښکلا د خپل ژوند ملګرې کړې او د هغه لپاره مرستندوی شې ستا له خبرو ښکاري چې هغه هم ښکلې ده هم ځوانه یوازې غربت او بې کسۍ دې حالت ته راوستې ظاهراً دا خبره را باندې ښه ونه لګېده خو چې سوچ مې وکړ له دې نه پرته زما سره همکارۍ بله لار نه وه ماسپښین دواړه له جوماته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووتو دخیمو په خوا مو ورو ورو په سړک قدم وهلو او ددې کار په امکاناتو مو خبرې کولې ملاشمس الدین ویل چې په دې کې هېڅ عیب نه شته دثواب کار دی خو ستونزه دلته ده چې اوس دهغې درک نه شته یوازې دردونکی داستان یې درکړی او نوره پته یې نشته بله دا چې ستا د پلار راضي کول هم اسان نه دي هغه به دوخته ستا لپاره کومه بله نجلۍ د ژوند د ملګرې په توګه ټاکلې وي.

***

دیوې میاشتې په اوږدو کې بله کیسه دا شوې وه چې پلوشې ته هماغه پاڼې لاسته ورغلې وې او کله به چې زه په پوهنتون کې وم نو مور ته به مې یې ویلې او ټولو به ورته او ښکې تویولې یو ماښام چې کورته ورننوتم ګورم چې پاڼې د پلوشې په لاس کې دي او هغوی ته یې لولي زما په لیدو یې رنګونو بدلون وکړ خو ما هېڅ هم ورته ونه ویل ځان مې غلی کړ او اجازه مې ورکړه چې داستان ته ادامه ورکړي وروستۍ برخه یې چې لوسته نوماهم ورسره وژړل مور مې په سلګو کې راته ویل چې که دغه نجلۍ راپیدا کړې نو زه په کورکې ځای ورکوم اوبال لري د مور مهربانۍ زه نورهم ډاډه کړم باید ووایم چې ما د ملاشمس الدین خبره منلی وه او فیصله مې کړې وه چې له ښکلا سره په واده کولو نور هغه او وړوکې شګوفه له دغه بدمرغیو ژغورم خو په مخکې لا خنډونه وو اود پلار نه ویرېدم هغه ته معلومه وه چې په کلي کې د خپل تره د لور ښکلا سره مینه لرم ممکن نو زما واده به یې ددومره دوښمنۍ سره سره ورسره کړی وو ځکه هغه د مینې مخالف نه وو خو دیوې پردېسې نجلۍ سره په واده چې څوک ونه لري دهغه راضي کول راته ګران وو ښه مې وبلله چې لومړی خبره د مور سره شریکه کړم ما هم همداسې وکړل مور مې په لومړي غبرګون کې راته په غوصه شوه بد رد یې راته وویل خو وروسته یې چې زما پریشاني او خفګان ولیده په حالت کې یې یوڅه بدلون راغی راته ویې ویل چې دهمدې نجلۍ درک ولګوه زه یې یوځل ګورم که مې خوښه شوه بیابه کوښښ وکړم چې پلاردې راضي کړم دازمالپاره یوښه زېری اودبري پرلورلومړی ګام وو دراتلوونکې جمعې په ورځ مې خبره دجمعې له لمانځه وروسته ملاشمس الدین سره شریکه کړه هغه هم خوښ شو له لمانځه وروسته په ګډه دهغه خېموخواته ورغلوچې همدغه مهال په کې دغه کډوال اوسېدل له څوخېمواخواتېرشوو یوسپین ږیری په مخ راغی سلام موپرې واچوو اوبیاموڅنګ ته کړملاشمس الدین ورته دښکلاځانګړتیاوې وویلې اودهغې پوښتنه یې ورڅخه وکړه سپین ږیری لږ فکروکړاوبیایې ځواب راکړ.

دګوربت اکانږوریادوی هغه پېژنم ډېره شریفه نجلۍ ده پخوایې ډېردرپه درژوند درلوداوس موسیسې ورته دوه درې کوټې جوړې کړې اوهلته وړاندې دخېموپه سرکې په یوه خېمه کې زموږ ماشومانوته درس وایي فکرکوم تاسې هم موسیسې واله یاست مادهوځواب ورکړاودمننې په ویلودهماغه دوه دریوکوټوخواته چې له سمنټي بولوکوڅخه جوړوو ورغلو له وړاندې نه دماشومانواوازونه راتلل چې په لوړاوازېې سبق ویلوخوچې ورنږدې کېدودزړه درزامې زیاتېدله اجازه مووغوښته اوملاشمس الدین وروړاندې شو یوځل بیامې ترمړاوو ښولاندې دهغې په تورواوغټوحیاناکوسترګې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولګېدې ، ښکلاکتاب په لاس کې نيولی وواوماشومانوته يې سبق ويلودهغې په رنګ کې مې هم پوره بدلون حس کړدلېونی په څېرله ملاشمس الدين وړاندې راتېره شوه اوماته يې سلام وکړ
نوريې په رپېدونکوشونډويوه خبره هم نه راتله يوازې دومره يې راته وويل پلاردې څنګه دی هغه يووخت ناروغ وو
ماهم ترې مننه وکړه اودصحت دپاره مې ورکړ
ورته ومې ويل شاګردان دې څنګه دي ؟
ځواب يې راکړ
ښه دي له لوست سره ډېره مينه لري ته ګوره چې زموږ خواته بيخي راګوري هم نه خبره مې ورپرې کړه
اخېرتاغوندې ښوونکې لري ځکه خواوس .....
يوقدم شاته شوه اوپه ټيټ غږ يې وويل
هغه زماامانت دې څنګه کړ
زه لږ حيران شوم چې اخيردازماسره کوم امانت لري
ورته ومې ويل کوم امانت !؟
په شونډويې پيکه خنداوغوړېده
ولې هغه پاڼې درته يادوم ته هم لکه چې زماغوندې هېرجن شوی يې !
په زړه کې مې يوځل بياددرد څپه تېره شوه ورته ومې ويل
ښکلاوبښه چې هغه مې رانه وړې زه نه وم خبرچې تاسې دلته ياست خوتابايدزه په دغه داستان دومره نه وی ځورولی
هغه لږجدي شوه
خوتاويل چې غواړم ستادژوندپه اړه معلومات ترلاسه کړم همدادې غوښتل
پام مې شو چې ملاشمس الدين مې هم ترڅنګ ولاړدی اوديوه ماشوم نه ديني پوښتنې کوي اوموږ هسې دتوقع خلاف په خبروکې دومره وړاندې تللې يو ورته ومې ويل
وبښه دازماملګری ملاشمس الدين دی په ابراهيم بن ادهم جومات کې مامت لري
مخ يې نورهم په پړووني کې پټ کړځواب يې راکړ
هو پېژنم يې هروخت په لاسپيکرکې دهغه مسئلې اورم نام خدا شه اوخوږ ژغ لري ډېرنېک انسان دی يوڅه غلې وه اوپه ورخطايی يې زياته کړه
خوومونه ويل چې څنګه مودلته.......
مخکې له دې چې خپله خبره بشپړه کړي زه يې په خبره کې ورولوېدم
ملاصيب غواړي ستاله.....وبښه له ګوربت اکاسره وګوري هغه چېرته دی لږجدي شوه زما خسريادوئ؟
داځل زمانه وړاندې ملاشمس الدين ځواب ورکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هو خورکۍ هغه چېرته دی ؟

وړاندې يې يوې وړې خېمې ته ګوته ونيوه چې تېرواوخښتويوه باره ورنه تاوو وه اوپه رنګارنګ جنډوپوښل شوې وه

په هغه خېمه کې دی خوارکۍ لژناروغ دی دازماشومه به درسره لاړه شي دټولګي خواته په منډه لاړه راته څرګنده شوه چې لهجه يې اوس هغه پخوانۍ نه ده بياهلمندۍ شوې ده

بېرته زرراغله يوه وړه نجلۍ يې زموږ خواته راولېږله داهماغه ماشومه شګوفه وه چې ماپخواليدلې وه اواوس ډېره ډنګره شوې وه

له دواړوسره يې سترې مشي وکړل اوبياورپسې دخېمې په لورروان شوو ديوې وړې خېمې په مينځ کې دشلېدلې کټ ترڅنګ يوبوډاسړی پروت وو اوزګېروي يې کول په بل کونج کې څولوښي اوزړې برستنې ايښې وې شګوفه مخکې شوه اوپه بوډاسړي يې غږ کړ

باباملاصيب راغی تاسره يې کاردی

ګوربت اکاپه ځای په سختۍ راکښيناست اوزموږ خواته يې وکتل په يوه خالي ځای کې چې زړه خوپاکه سطرنجي په کې غوړېدلې وه کښيناستواوداوړدوخبروحال اواحوال پوښتلووروسته ملاشمس الدين خبره وريادده کړه ګوربت اکابې له دې چې څه ووايي دهغه لاس يې پوزې ته اوچت کړښکل يې کړاوزياته يې کړه

مولوي صيب ته دخيرپرښته يې داخوبه دې په مالوی احسان کړی وي زماهسې هم په دې نړۍ کې وروستۍ شپې اوورځې دي ښکلالورمې بله پناه نه لري زه يې ګورم چې له همدې غمه هره ورځ اوشپه ترسهارپټې اوښکې تويوي هغه ماته وايي چې ستاناورغۍ اوزهيرحالت ته ژاړم خوزه پوهېږم ماهم ځواني تېره کړې دهغه سره له دې نه زيات هم دخپل عزت وېره ده زه پوهېږم چې ښکلالورمې له مانه هم زيات له خپلې لورشګوفې اوعزت سره مينه لري يوه ځوانه پښتنه بايدهمداسې وېره ولري بياددې غوندې چې بې له خدايه اومابله سرپناه نه لري هغه زمادوراره کونډه ده خوماته له لورکمه نه ښکاري زمادکورنۍ دټولوغړوبېلتون نورزماملادتل لپاره ماته کړې ده که نن وي که سبازه به په دې خاوره خپله آب دانه ختمه کړم او....

لږ دمه شوبيايې خبروته دوام ورکړ

دژوندستونزو نورزماپوښتۍ ماتې کړې دي يوچاچې ټول عمرپه خانۍ کې تېرکړی وي اوپه دسترخوان يې دچم فقيران اوملنګان هروخت راټول شوي وي نوداوسنی سوالګرژوندورته بې اجله مرګ دی...

زه اوس دځان له پاره نه يوازې دشکلالپاره انديښنې کوم چې ديوې ځوانې اوبې سرپناه سياسرې اينده به څنګه کېږي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه کونډه ده خوځوانه نجلۍ ده .....په سترګوکې يې اوښکې راډنډشوې اوله څه ځنډوروسته يې بياخبروته دوام ورکړ
زه نورهغه ... هغه ستاپه زولۍ کې دراچوم ملاشمس الدينه ! ماستادفيض اوبرکت خبرې پخواهم اورېدلي وې زه خبرېدم چې ځوځله دې په جومات کې زموږ سره دمرستې غږ اوچت کړی دی
يوځل بیاغلی شو بيايې زماخواته راوکتل اوسترګې يې راغونډې کړې
بچيه ته کټ مټ زماوراره سلطان ته ورته يې لکه چې خدای تالا(تعالی) مې سوالونه قبول کړل تاپه مالوی احسان وکړښکلابه ستاکورودانه نه بلکې ستاوينځه اوغلامه به وي هغه ډېره درد بېدلې ته يې خوشحاله وساته هغې له دې پخواهم ځوځله په خبروکې ستاپه اړه ماته څه ويلي وو خوزه نه پوهېدم چې هغه ته يې
داهغه شپې وې چې زموږ ددريوواړوله سترګونه ددرد ، خوښۍ ايشاراومينې اوښکې راماتې وې اوشګوفې حيران حيران موږ ته کتل دهغې ځېره کټ مټ خپلې مورته ورته وه اوان له دې ماشومتوبه يې په ځېره کې هلمندۍ غرنۍ ښکلا په ځپووه

* * *

په همدې جريان کې يوه بله مياشت هم تېره شوه مورمې يوه ورځ له پلوشې سره هغلته ورغلته ورغله له ښکلاسره يې په خبرې کړې وې کله چې راغله نودهغې دښايست اومظلوميت داستانونه يې بيانول پوره ورځخه متاثره وه هځه مې داوه چې پلارمې راضي کړي اوښکلاخپل کورته راولي پلارته مې يې داهم ويلي وو چې سلطان زو ی مې بې له دغې نجلۍ دبل چاسره واده نه کوي داخبره که هرچاته وکړې چې يو دلوړوزده کړوخاوند ځوان دې ديوې همداسې سيالې خوکونډې سره دژوندشريکولوته غاړه کېږدي ورته عجيبه ښکاري خودلته دمينې اوانسانيت يوه ګډه جذبه اوپاکه تلوسه موجوده وه چې له انساني همدردۍ پيداشوه په مينه وپالل شوه اوملاشمس الدين دبري تردرشله ورسوله له ښکلاسره تريوځل ليدووروسته مې پلارهم له هغې نه اغېزمن شو ظاهرا يې بياهم په پخوانوښکنځلوولمانځلم اوپيغورونه يې راکړل نيمګړتيايې يوازې بې وزلي اوبې کوري و ه خو زه اوس دې ټولوته تسليم وم اوخپله پرېکړه مې کړې وه چې ښکلابه ببرته دخوښيوپه باغ اوبڼ ورګډوم پلارمې په نه زړه غاړه کېښوده په کومه ورځ چې ښکلازماپه نوم شوه له هغې نه دوه ورځې وروسته ګوربت اکاله نړۍ نه سترګې پټې کړې اودژوند پېټی يې له اوږوکوزکړدهغه جنازه ملاشمس الدين وکړه
زه چې کله خېمې ته ورغلم ګڼې ښځې راغونډې وې ښکلامې وليده چې له مننې په ډکوسترګويې زماخواته راوکتل اوپه شونډويې له هيلوډکه موسکاخوره شوه په راتلونکې اونۍ کې زموږ واده ترسره شوملاشمس الدين زمااوښکلانکاح وتړله واده زموږ په کورکې ترسره شو دومره ګڼه ګونه نه وه نږدې دوستان موټول رابللي وو دغه محفل وړوکی ووخوخنداپه کې ښه پرېمانه وه دوستانوبه يوبل ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

له تټوکې ترغوږ ورتېروله چې سلطاني په ایروکې لال وموندو په لومړي ځل مې حس کړه چې پلارمې هم په دغه پرېکړه ډېر خوشحاله دی او دغه کار زما ایثارګڼي
یوه ورځ په خپله کوټه کې ناست وم ښکلا راته وویل
سلطانه !
ته کټ مټ هماغسې یې زه فکر کوم چې هغه بېرته راژوندی شوی دی او ستا په جامه کې زما ترڅنګ ناست دی ما چې لومړی ځل ولیدې نو فکرمې وکړ چې د هغه روح زما پوښتنې ته راغلی ما وخندل په مخ مې یوه وړه څپېړه ورکړه.
او ته هم زما د کلي ښکلا ته ورته یې چې زه په پرې مین وم دا تصادف بې څه نه نه دی چې تا ته یې یو ځل بیا سلطان او ما ته یې ښکلا پیدا کړه دا وړو وخندل چې په دې کې زموږ د کوټې ورخلاص شو شګوفه په منډه راغله زما غېږې ته یې په خندا ځان راګزار کړ
پلارجانه !پلار جانه ! میوند او به راشیندي

جلال اباد ښار
۵\۸\۱۳۸۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلیکوال چاپ شوي اثار

۱-سانده (شعري ټولګه )
۲- دژوند لوبه(ناول ) ژباړه
۳-تلپاتې درد ( ادبي ټوټې )
۴-ښکلا(ناول )
۵-وروستی فصل ( لنډې کیسې )
۶-ګوره چې هېرمې نه کړې ( تذکره )
۷-بې وطنه ( لنډې کیسې )
۸-مونوګراف لیکنه

ناچاپ
۱-په نړیوالو ادبیاتو کې دټاګور ونډه (څېړنه )
۲-بندیوان ( ناول )
۳-تبعید (د سید جمال الدین افغان له افکارو جوړ داستان )ژباړه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**